٦٩٠

سایه ساران

قرآن و نبوت

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

ملی اصلاح

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۳۳مه ګڼه، د ۱۳۹٦ لمریز کال د قوس ۴مه، د ۱۴۳۹ هـ ق د ربیع الاول ۷مه، د ۲۰۱۷م د نومبر ۲۵مه نېټه

تر څو خپلو کې پخلا نه شو

امریکا به مو لاهم وژني!

لویه جرګه

روانې ستونزې حلولای شي؟

ما و قرآن کریم

در این روزگار مردم نسبت به کتاب خدا آگاهی ندارند. میان آنان و کتاب الله پرده‌ای ضخیم و سدی استوار کشیده شده است که آنان را واداشته که به نکاتی خلاصه و بعضی تذکرات از قرآن دل خوش کنند؛ همت شان از آن بالاتر نرود و به مقاصد اصلی نرسد.

عملی کردن احکام دنیوی قرآن: مردم چیز دیگری را جایگزین آن کرده‌اند. اکنون قوانین ساخته‌ی بیگانگان از جمله: فرانسویان و رومیان، بنیان قوانین مسلمانان شده است؛ بدین سان به احکام کتاب خدا توجهی نمی‌شود و در میان مسلمانان به فراموشی سپرده شده است. در صورتی که اگر گوش شنوا می‌داشتند، خداوند همه‌ی خوبی‌ها را برایشان مقرر کرده. اکنون مسلمانان به این بسنده کرده‌اند که از قرآن – تنها – برای شفای بیماری‌هایشان تعویذ بنویسند. قرآن را زینت محافل خود کنند و در غم و شادی از آن همانند جنسی دکوری و لوکس استفاده برند. ای کاش، فقط همین گونه حق قرآن را ادا می‌کردند اما در همان مجالسی که قرآن خوانده می‌شود نیز مردم سرگرم بازی‌ها، سرگرمی‌ها و بیهوده گویی‌ها هستند. در صورتی که خداوند متعال فرموده:

(وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُواْ لَهُ وَأَنصِتُواْ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ) اعراف: ۲۰۴

(هنگامی که قرآن خوانده می‌شود، گوش فرا دهید و خاموش باشید تا مشمول رحمت خدا شوید.)

قرآن روزگاری زیور نمازها بود، اما امروز زیور مجالس تعزیه است. روزگاری میزان عدالت بود اما امروز سرگرمی بیهوده گویان مراسم گوناگون است. روزگاری نگین خطبه‌ها و پندها بود اما امروز برای زیور و تعویذ به کار می‌رود. آیا حق ندارم بگویم: چیزی را مانند قرآن ندیدم که در حقیقت ضایع شده است اما به نظر می‌رسد که از آن پاسداری و محافظت می‌گردد؟!

تضاد شگرفی است که ما در مقابل قرآن داریم. بی شک قرآن را گرامی می‌داریم و از آن توشه برمی‌گیریم و با آن به پیشگاه خدا تقرب می‌جوییم. در این‌ها شکی نیست اما ای قوم! روش تعظیم را اشتباه کرده‌اید و راه توشه گرفتن را اشتباه رفته‌اید و از جاده تقرب به پیشگاه خدا دور افتاده‌اید.

مراکزی که شمار زیادی به احترام قرآن از سربازی در آنها معاف می‌شدند، امروز خالی است. آیا این پایمال شدن کتاب خدا نیست که کسی در آن قرآن حفظ نمی‌کند و برای استفاده از معافیت به این مراکز نمی‌رود؟

آیا این پایمال شدن قرآن نیست که دانشجو قرآن را حفظ می‌کند تا به الازهر شریف داخل شود – که شرط ورود به آن، حفظ قرآن است – و هنگام فارغ التحصیل شدن، قرآن را فراموش کرده است زیرا در پایان کار حفظ قرآن شرط نیست؟ هنگامی که از دانشگاه بیرون می‌آید، می‌بینند که در امامت نماز، قرائت را کوتاه می‌خواند و اگر واعظ است به همان گفته‌های رایج در منطقه‌اش بسنده می‌کند و اگر وکیل یا قاضی است، تنها برای تصحیح آیات مورد نیاز به قرآن مراجعه می‌کند.

ما بیگمان قرآن را پایمال کرده‌ایم. گویا میان ما کتابی باستانی است که نباید در زندگی ما نقشی داشته باشد و نباید احکام آن اجرا شود. در حقیقت این مصیبت و بلایی است که ما بدان دچار شده‌ایم.

خواننده‌ی گرامی! چون این حقیقت را دانستید، پس بدانید که اخوان المسلمین با جدیت در پی آنند که پیش از هر چیز به کتاب خدا باز گردند. با تلاوت اش عبادت کنند؛ از آن در فهم گفتار پیشوایان دینی بهره برند؛ از مردم اجرای احکام قرآن را مطالبه کنند و مردم را فرا خوانند تا با آن در تحقق این مقصود همراه شوند. هدف و مقصدی که والاترین و ارزشمندترین مقصد مسلمان در زندگی است. در آغاز و فرجام، فرمان از آن خداست.

امام حسن البنا رحمه الله

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۵۲۶۳۷۷۳ – ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا:دگردیزښار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور شاته، خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: شهر زرنج، کوچه‌ی افغانستان بانک، جنب ریاست زراعت، دفتر جمعیت اصلاح: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

تر څو خپلو کې پخلا نه شو
امریکا به مو لاهم وژني!

تېره اونۍ د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ مربوطاتو کې په یوه دیني مدرسه برید وشو چې په پایله کې یې بې‌ګناه ماشومان او د قرآن کریم حافظان لاس‌ترلي ووژل شول او نوم پرې د وسله‌والو مخالفینو کېښودل شو.

دا لومړی ځل نه دی چې د بهرنیو قواوو او په سر کې یې د امریکایي عسکرو له لوري داسې جنایت تر سره کېږي، بلکې هره اونۍ او په کراتو داسې جنایات تر سره شوي او لاهم تر سره کېږي، خو په خواشینۍ سره چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او نړیوالې ادارې په دې اړه هرځل خاموشه وي او یا هم ګونګ بیانونه صادروي.

په دې کې شک نه شته چې امریکا له لومړۍ ورځې چې افغانستان ته یې خپل پوځونه راستولي دي، هڅه کوي ترڅو عام وګړي په نښه کړي، کورونه یې تلاشي کړي، بمبارۍ پرې وکړي او په دې توګه خلک په لوی لاس وسلې اوچتولو ته اړ کړي، چې تېر شپاړس کلونه یې نښه بېلګه ده.

پر ودونو له بمباریو نیولې، په کندز کې د روغتون تر بمبارۍ، د ملي اردو او ملي پولیسو پر افرادو بمبارۍ او داسې نورې پېښې چې هرځل ورته د خطاء او سهوې نوم ورکړل شوی دی، بې‌له شکه چې قصدي کارونه دي او په نرخ کې د تنکیو ماشومانو وژنه هم یو قصدي عمل دی چې تر سره کېږي، چې دا ټول د دې څرګندونه کوي چې امریکا افغانستان ته د جګړې د اوږدولو او د افغانانو د قرباني کولو لپاره راغلې ده او تر هغو به دا چارې تر سره کوي، تر څو چې یې خپل ستراتېژیکي موخې تر لاسه کړې نه‌وي.

مونږ په کراتو ویلي دي چې په افغانستان کې جګړه د حل لاره نه ده، او د جګړې اصلي سبب او اوربلونکې هم همدا امریکا ده او تر هغو چې امریکایي قواوې دلته شتون ولري، په یو نه یو شکل به جګړې ته د سون مواد برابروي او د خپل شتون لپاره به پلمه برابروي.

امریکا د نړۍ له هغه ګوټ نه دلته دې خوار او غریب هېواد ته نه د افغانانو له غمه راغلې او نه هم د دې هېواد سوکالي او پرمختګ غواړي او نه هم د ترهګرۍ له وېرې دلته پوځي اډې جوړوي، بلکې له لسګونو کلونو انتظار وروسته له پلان سره سم یې خپل پوځونه دلته راوستل او تر هغو به افغانان وژني او یا به یې یو پر بل سره کوتره کوي، تر کومه چې پر دې ډاډه نه شي چې نور یې دا سیمه خپله کړه او له دې ځایه یې څوک نه‌شي ایستلی.

نو په داسې حالاتو افغانان باید د حالاتو ستونزمن‌توب ته ځیر شي، او په دې وپوهېږي چې بین الافغاني جګړه یوازې د بهرنیانو په ګټه ده او تاوان او زیان پکې یوازې افغانان وینې او په دې جګړه کې به بریا هېڅکله هم د یو افغان لوري (حکومت او سله‌والو مخالفینو) په برخه هم نه شي، بلکې افغانستان به لاهم د پردیو د سیالیو او ډغرو ډګر جوړ شي او مونږ به لاهم پسې د پردیو غلامان شو.

نو راځئ! چې په یو غږ او یوه خوله جګړې ته نه ووایو، د سولې لپاره ګامونه اوچت کړو، امریکایي او بهرنیو پوځونو ته له هېواد نه د تللو ووایو او په خپلو کې سره کېنو، تر څو نور مو الله تعالی د وینو له دې ډنډ څخه وباسي او هېواد کې مو د خوښۍ او سولې ورمې وچلېږي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

کنفرانس ریکا

نشست بزرگ اقتصادی در منطقه

مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی

عشق‌آباد پایتخت ترکمنستان این بار میزبان هفتمین کنفرانس همکاری‌های اقتصادی منطقوی برای افغانستان یا ریکا (RECCA) بود. در این کنفرانس که در روزهای سه‌شنبه و چهارشنبه (۱۴ و ۱۵ نوامبر ۲۰۱۷) برگزار شد، نماینده‌گان ۴۴ کشور منطقه و جهان و ۳۸ سازمان بین‌المللی شرکت کردند.

محمد سرور دانش، معاون دوم ریاست جمهوری افغانستان در رأس یک هیأت دولتی در این کنفرانس دو روزه اشتراک و با مقام‌های کشورهای عضو «ریکا» و سازمان‌های منطقوی و بین‌المللی نیز، روی چگونگی سرمایه‌گذاری، تجارت و ترانسپورت کشورهای همسایهٔ افغانستان و منطقه بحث و گفتگو کرد.

یکی از رخدادهای مهم این کنفرانس امضای توافقنامهٔ «راه لاجورد» میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان بود.

در این تحلیل بر پروسهٔ کنفرانس‌های ریکا، تاثیر کنفرانس‌های گذشتهٔ ریکا بر افغانستان و منطقه، به خصوص کنفرانس اخیر، و توافقنامهٔ «راه‌لاجورد» پرداخته شده است.

کنفرانس ریکا «RECCA»

کنفرانس همکاری‌های اقتصادی منطقوی برای افغانستان به اختصار «RECCA» به ابتکار وزارت خارجهٔ افغانستان در سال ۲۰۰۵م کلید خورد و نخستین نشست آن نیز به تاریخ ۵ دسامبر همین سال در کابل برگزار گردید. از سال ۲۰۰۵م الی اکنون هفت کنفرانس این پروسه برگزار گردیده است. دومین نشست ریکا در سال ۲۰۰۶ در دهلی نو پایتخت هند، سومین نشست آن در سال ۲۰۰۹ در اسلام‌آباد، چهارمین نشست آن در سال ۲۰۱۰ در استانبول ترکیه، پنجمین نشست آن در سال ۲۰۱۲ در دوشنبه پایتخت تاجیکستان و ششمین نشست آن نیز در سال ۲۰۱۵ در کابل برگزار شد. کنفرانس اخیر، هفتمین اجلاس ریکا بود که هفتهٔ گذشته در عشق‌آباد تدویر یافت.

کنفرانس ریکا (RECCA) به هدف تقویت همکاری‌های اقتصادی منطقوی، ایجاد همگرایی منطقوی به منظور اجرای طرح‌ها و پروژه‌های مهم زیربنایی با محوریت افغانستان و در تامین منافع همه اعضاء، ایجاد شده است.

ریکا پس از ۱۲ سال به یک نشست اقتصادی موثر تبدیل شده و اکنونی یکی از کنفرانس‌های بزرگ به سطح منطقه است که با اشتراک نماینده‌گان بیش از ۷۰ کشور منطقه و سازمان‌های بین‌المللی برگزار می‌شود و روی پروژه‌های بزرگ زیربنایی بحث می‌کنند. با توجه به میزان بلند حضور نماینده‌گان بلندرتبهٔ کشورها، این کنفرانس از اهمیت فراوانی برخوردار است و در تناظر پیوند منافع مشترک، به عنوان یک فرصت کاهش‌دهندهٔ مشکلات سیاسی، امنیتی و اقتصادی مطرح است.

تعهدات «ریکا» تا چه اندازه عملی شده‌اند؟

در شش کنفرانس گذشتهٔ «ریکا»، تعهدات و توافقات مهمی چون توجه به زراعت و گسترش صنعت زراعتی، توسعهٔ تجارت، توسعهٔ حمل و نقل ترانزیتی، تشویق سرمایه‌گزاری خارجی در منطقه به خصوص افغانستان، استفادهٔ مشترک از آب‌ها، مبارزه با مواد مخدر، ایجاد پروژه‌های اقتصادی میان کشورهای منطقه تا تمام این کشورها بتوانند در کوتاه‌مدت از آن سود ببرند، تلاش در برابر از بین بردن بی‌باوری‌های موجود میان برخی کشورها به هدف مهیا کردن زمینهٔ همکاری‌های اقتصادی، همکاری کشورهای منطقه با افغانستان به منظور مبدل شدن این کشور به مرکز انرژی منطقه، روی دست گرفتن یک پلان جامع برای برگشت مهاجرین افغان و نیز ساخت کمپ‌ها برای مهاجرین، ساخت سرک‌های منطقوی، ساخت خط آهن منطقوی، استخراج معادن و غیره صورت گرفته است.

پروسهٔ استانبول یا قلب آسیا، آغاز کار پروژهٔ انتقال گاز تاپی و پروژهٔ انتقال انرژی کاسا ۱۰۰۰، افتتاح خط آهن اتامراد-آقینه، کار روی خط آهن خواف-هرات، موافقتنامهٔ بندر چابهار، توافقنامهٔ راه لاجورد و غیره از دست‌آوردهایی محسوب می‌شوند که در این کنفرانس‌ها روی آن بحث صورت گرفته است.

با این هم و باوجود اهمیت فراوان این کنفرانس، بیشتر پروژه‌ها و تعهداتی که در اعلامیه‌های این کنفرانس‌ها مورد توافق قرار گرفته‌اند، روی کاغذ باقی مانده و عملا

به استثنای چند مورد مشخص، کاری صورت نگرفته است. اگر تعهدات و توافقات ریکا به گونهٔ درست عملی شود، از یک‌سو زیربناهای افغانستان ساخته می‌شود و از سوی دیگر افغانستان به مرکز ترانزیت، تجارت و انرژی منطقه مبدل خواهد شد. بنابراین، نیاز به سکرتریتی در کابل برای عملی نمودن درست این تعهدات دیده می‌شود. هرچند یکی از دلائلی که مصوبات این کنفرانس کمتر جنبهٔ عملی به خود می‌گیرد، اختلافات میان برخی کشورها به عنوان مثال افغانستان، پاکستان و هند به شمار می‌رود که این کنفرانس بزرگ منطقوی را تحت تاثیر قرار داده است.

در کنفرانس «ریکا-۷» چه گذشت؟

در کنفرانس دو روزهٔ «ریکا-هفت» در عشق‌آباد، روی ارزیابی پیشرفت‌ها در تعهدات ششمین کنفرانس ریکا، بحث روی تقویت همکاری‌ها میان تاجران و سرمایه‌گذاران در سطح منطقه، شناسایی چالش‌ها و موانع و بررسی نیازهای مالی و فرصت‌های سرمایه‌گذاری در رابطه به پروژه‌های منطقوی، تسهیل تجارت و ترانزیت، انرژی، مخابرات و ترانسپورت و پروژه‌های توانمندسازی اقتصادی زنان بود.

در روز نخست این کنفرانس یک نشست مهم در مورد تجارت منطقوی و نشست دیگری که از آن به عنوان یک رخداد مهم و تازه در تاریخ کنفرانس «ریکا» نام برده می‌شود، تحت عنوان توانمند سازی زنان در عرصهٔ تجارت برگزار گردید.

در این نشست رولا غنی بانوی اول افغانستان سخنرانی کرد و در جریان سخنرانی‌اش کنفرانس ریکا را یک چهارچوب موثر برای شکل‌گیری همکاری و همگرایی منطقه خواند و گفت که نقش زنان افغانستان در عرصهٔ تجارت برجسته‌تر شده است و کار دوشادوش مردان و زنان باعث تقویت اساس خانواده و در نهایت جامعه و منطقه خواهد شد.

در روز دوم کنفرانس ریکا، توافقنامهٔ پنج‌جانبهٔ «راه لاجورد» میان افغانستان، ترکیه، ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان به امضاء رسید. صلاح الدین ربانی سرپرست وزارت خارجهٔ افغانستان پس از امضای این توافقنامه در سخنرانی‌اش اظهار داشت که امضای این توافقنامه در نتیجهٔ تلاش‌های مشترک کشورهای منطقه و جهان، به خاطر تقویت اتصال و گسترش تجارت از طریق سرمایه‌گذاری روی زیربناها و بهبود همکاری و هماهنگی صورت گرفت.

در کل همه کشورهای عضو کنفرانس «ریکا» بیشتر در بخش پروژه‌های بزرگ اقتصادی و نگرانی‌های امنیتی منطقه تمرکز داشتند. بحث روی عملی شدن پروژه‌های بزرگ منطقوی به شمول پروژه‌های تاپی، کاسا ۱۰۰۰، «راه لاجورد» و سایر پروژه‌ها، از اهداف مهم این نشست بود.

راه لاجورد و اهمیت آن در منطقه

براساس مطالعات نهادهای مستقل، این مسیر که تاریخچهٔ آن به بیش از دو هزار سال می‌رسد، یکی از مسیرهای اصلی راه ابریشم بوده است. در آن زمان احجار قیمتی افغانستان به شمول لاجورد از معادن بدخشان از همین مسیر به اروپا، بالکان و کشورهای سواحل مدیترانه صادر می‌شد و به همین دلیل نام این مسیر نیز «راه لاجورد» انتخاب شده است.

طرح «راه لاجورد» در سال ۲۰۱۴م به ابتکار افغانستان با کشورهای ذیدخل درمیان گذاشته شد که از سوی کشورهای منطقه مورد توجه و استقبال قرار گرفت. راه لاجورد که از افغانستان آغاز خواهد شد، از مسیر بندر «ترکمن‌باشی» کشور ترکمنستان، شهر «باکو» آذربایجان و منطقهٔ تفلیس گرجستان به دریای سیاه و بعدا با گذشتن از کشور ترکیه، افغانستان را به آب‌های آزاد و اروپا وصل می‌کند.

افغانستان یک کشور محاط به خشکه است و نیاز دارد تا برای ترانزیت و تجارت خود مسیرهای خوبی به آب‌ها پیدا کند. چالش‌های امنیتی و سایر مشکلات ترانزیتی در مسیر بحر هند برای افغانستان، باعث شد تا این کشور در جستجوی راه‌های بدیل برای رسیدن به بحر و ارتباط با کشورهای صنعتی و دیگر کشورهای جهان شود.

موافقتنامهٔ راه لاجورد یکی از پروژه‌های دارای اولویت ریکا بوده و امضای آن از دستاوردهای مهم ریکا به شمار می‌آید. چند نکتهٔ مهمی را که به راه لاجورد اهمیت ویژهٔ می‌دهد و نیز برای اجرای طرح آن فرصت‌های خوبی پنداشته می‌شود، می‌توان چنین برشمرد:

نخست؛ راه لاجورد مسیر کوتاه، ارزان‌تر و مطمئن‌تر برای وصل شدن افغانستان به اروپا است، چون از افغانستان تا بندر ترک‌باشی و نیز از باکوی آذربایجان تا ترکیه جاده‌های خط آهن وجود دارند.

دوم؛ تعهد چین برای سرمایه‌گذاری حدود ۴۰ میلیارد دالر در این بخش، نیز فرصت خوبی برای عملی شدن طرح راه لاجورد می‌باشد.

سوم؛ راه‌لاجورد از لحاظ هزینهٔ انتقال اموال نسبت به راه پاکستان اقتصادی است.

چهارم؛ این راه می‌تواند کشورهای آسیای جنوبی را با چین و کشورهای اروپایی، از طریق افغانستان وصل نماید.

پنجم؛ راه‌لاجورد باعث کاهش وابستگی افغانستان برای انتقال اموال از راه‌های پاکستان و ایران خواهد شد.

ششم؛ راه‌لاجورد یک چانس بزرگی برای کشورهای ترکمنستان، آذربایجان و گرجستان نیز است، چون مشارکت این کشورها با اروپا، باعث کاهش وابستگی آن‌ها با روسیه خواهد شد.

با این همه، نبود امنیت و ثبات در افغانستان و منطقه، نبود اطمینان از همکاری ایران و روسیه در عملی کردن این طرح، مهیا نبودن زمینه‌ها برای انتقال کالا و خدمات دیگر در کشورهای که می‌خواهند از این طرح استفاده کنند، چالش‌هایی اند که در برابر «راه لاجورد» قرار دارند و ممکن در زمینهٔ عملی شدن این طرح باعث ایجاد مشکلاتی نیز گردد.

لویه جرگه روانې ستونزې حلولای شي؟

د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي څه باندې یوه میاشت وړاندې په یوه خبري کنفرانس کې د لویې جرګې د رابللو خبره مطرح کړه. کرزي وویل، دا غوښتنه یې د حکومت مشرانو ته د یوه لیک په استولو سره مطرح کړې ده.

د کرزي په وینا، موږ هم له امریکا او هم له ګاونډیانو او د نړۍ له نورو هېوادونو سره دوستي غواړو؛ خو د امریکا نوې تګلارې افغانستان د زبرځواکونو د تقابل په ډګر بدل کړی.

که څه هم افغان حکومت د کرزي د دغې غوښتنې په ځواب کې کوم مخامخ غبرګون ونه ښود؛ خو د ولسمشر ویاند شاه حسین مرتضوي له رسنیو سره په خبرو کې د امریکا اعلان شوې ستراتېژي ګټوره او د سیمې له حالاتو سره مناسبه وګڼله او ویې ویل، چې حکومت د پخواني ولسمشر نظر ته درناوی لري. د ده په وینا، حکومت د هر هغه نظر چې مثبت وي او په هېواد کې له سولې او ثبات سره مرسته وکړي، هرکلی کوي.

د یوې میاشتې له تېرېدو وروسته، کله چې د لویې جرګې خبره نوره هم ګرمه شوه، ولسمشری ماڼۍ تېره اوونۍ (د نومبر ۱۵مه) د یوې ویناپاڼې په خپرولو سره د لویې جرګې د جوړولو له هڅو سره مخالفت وکړ. په ویناپاڼه کې راغلي: «په دې وروستیو کې ځینو افرادو او حلقو د لویې جرګې د رابللو اوازې خورې کړې او د هېواد ځینو ولایتونو ته یې خپل افراد هم استولي. هغوی نه یوازې د حکومت رسمي استازي نه دي، بلکې عام خلک هم له دوی سره په ناستو او مشورو مکلف نه دي.»

د ولسمشر د دفتر ویناپاڼه کاږي، چې دا پروسه د افغانستان له نافذه قوانینو سره مطابقت او رسمیت نه لري او د حکومت کارکوونکو ته لارښوونه کېږي، چې په دې پروسه کې له ګډون څخه ډډه وکړي.

پوښتنه دا ده، چې ایا دا ډول لویه جرګه جوړېدونکې ده؟ او ایا د دودیزې لویې جرګې رابلل به هېواد له اوسني وضعیت څخه وباسي؟

کوم ډول لویه جرګه؟

ملي وحدت حکومت په اوسني وخت کې نه د اساسي قانون لویه جرګه رابللی شي او نه هم دودیزه لویه جرګه؛ ځکه د اساسي قانون د لویې جرګې دایرول اوسمهال ناشوني دي. په اساسي قانون کې یاده شوې لویه جرګه به د ملي شورا له غړیو او د ولایتونو او ولسوالیو د شوراګانو له رئیسانو جوړېږي، چې تراوسه د ولسوالیو د شوراګانو لپاره ټاکنې هم لانه دي شوې. د دې ترڅنګ د ولسي جرګې ټاکنې هم اړینې دي؛ ځکه د اوسنۍ جرګې رسمي کاري موده او مشروعیت پای ته رسېدلی او د ټاکنو لپاره یو پر بل پسې د نېټو له ټاکلو وروسته هم ټاکنې نه دي شوې.

په بل اړخ کې یو شمېر کړۍ د همدغې قانوني تشې له کبله، د بېړنۍ دودیزې لویې جرګې د دایرولو غوښتونکي دي، ترڅو هېواد له روان بُن‌بست څخه وباسي. که څه هم دا ډول لویه جرګه د ولسمشر د فرمان له مخې دایرېدلای شي؛ ځکه د اساسي قانون د ٦٥مې مادې له مخې ولسمشر کولای شي په مهمو ملي،

سیاسي، ټولنیزو او یا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو نظر پوښتنې ته مراجعه وکړي؛ خو بیا هم ولسمشر ملزم نه دی، چې د اضطراري او مشورتي لویو جرګو پرېکړې ومني. اوسني وضعیت ته په کتلو سره به حکومت داسې لویه جرګه هېڅکله هم راونه غواړي، چې موخه یې د حکومت پرځول، له دغې لارې حکومت نقدول، بدنامول او پرځای یې د یوه نوي موقتي حکومت راتګ وي.

حامد کرزی او د لویې جرګې غوښتنه

که د پاکستان په تړاو د امریکا د تېرې یوې لسیزې تګلارې ته وګورو نو افغان حکومت په تېره بیا پخواني ولسمشر تل د امریکا دا ډول تګلارې نقد کړې دي؛ ځکه د ده په اند د «ترهګرۍ» پرضد اصلي جګړه باید د پاکستان په خاوره کې وشي؛ ځکه له هغه ځایه وسلهوال مخالفین د افغان حکومت پرضد جنګېږي.

امریکا په تېر کې دا ډول نیوکو ته ډېره پاملرنه ونه کړه؛ خو د ډونالډ ټرمپ له راتګ سره، د سوېلي آسیا او په تېره بیا د پاکستان په تړاو د امریکا سیاست همغسې بدلون وموند، چې کرزي یې په خپله دوره کې غوښتنه کوله. له ۲۰۰۱-۲۰۰۲ کلونو پرته دا لومړی ځل دی، چې پاکستان د امریکا تر فشارونو لاندې راځي.

بله خبره چې د ډېر تعجب وړ ده، هغه دا چې په تېر کې پخواني ولسمشر حامد کرزي په خپله د دا ډول پرېکړو درناوی نه دی کړی؛ خو اوس په خپله د هېواد د ژغورنې یوازینۍ لاره د دودیزې لویې جرګې رابلل ګڼي؟!

آیا لویه جرګه به اوسنی وضعیت بدل کړي؟

که څه هم اوسمهال د ملي وحدت حکومت دریځ دا دی، چې د حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ له ژمنه شوې لویې جرګې پرته به، هېڅ ډول بله جرګه راونه بولي؛ دغه راز د ملي یووالي حکومت به تر ډېره هېڅمهال هم ونه غواړي، چې د یوې داسې موضوع په تړاو چې دوی یې له ډېر وخت راهیسې په لټه کې وو (د ټرمپ د پاکستان اوسنۍ تګلاره) یوه داسې بحث ته وغورځوي، چې له کبله یې د خلکو بېباوري پرې زیاته شي. ځکه شونې ده، چې نور سیاسي مخالفین به دا غونډه د ملي یووالي حکومت د لا ډېرې بدنامۍ او سیاسي ابزار په توګه استعمال کړي او وروسته به بیا خپلو غوښتنو ته د ولسي غوښتنې رنګ ورکړي.

بیا هم، که د اوسنیو ستونزو د هواري په موخه لویه جرګه راوغوښتل شي، آیا د اوسني وضعیت د بدلون او سم لوري ته د تګ تضمین به وکړای شي؟ هغه هم داسې مهال چې د دودیزې لویې جرګې د مېلمنو لېست او اجنډا په خپله اوسنی حکومت وټاکي!

په بل اړخ کې د پخواني ولسمشر په ملاتړ د دا ډول جرګې د جوړېدو شونتیا هم شته ده. که همداسې وشي، نو دا به یوازې پر حکومت د فشار واردولو یوه هڅه وبلل شي او له لومړي سره به د ملي یووالي حکومت له مخالفت سره مخ وي؛ ځکه حکومت مخکې له مخکې دا هڅه د قانون خلاف بللې ده.

کوچنیان او لویان

انیسه غزنوی

مونږ انسانان عجیبه موجودات یو، د ژوند په هره برخه کې د لوړتیا او عالي‌توب فکر کوو، خو په دې نه پوهېږو چې په حقیقت کې کوچنی څوک دی او لوی څوک؟؟؟

کله چې مونږ کوچنیان وو، له خاورو او شګو څخه به مو د لوبو کورونه جوړول، ډېر په مینه به یو بل سره غږېدو، کله کله به په یوه خبره سره په جنګ شولو او یو بل به مو ښه ووهل، خو یوه ګړۍ وروسته به بیرته سره خندېدو او په زړونو کې به مو د یو بل لپاره هیڅ کینه او خفګان نه ؤ.

په هر لږ شي به راضي وو، ساده ژوند ؤ، له نړۍ او چاپېریال څخه نا خبره په خپلو لوبو بوخت وو، خو ټولو خلکو به مونږ ماشومان بللو، کله به چې مونږ د خلکو له خولې څخه د ځان په اړه د کوچني او ماشوم کلمه اوریدله، نو د لوییدو او لوړیدو سخته تنده به را سره پیدا شوه.

آه! انسان ډېر ستر او لوړیدای شي، خو کله چې لوی شي، بیا د کوچنیتوب ارمان کوي، خو کوچنی کېدلی نه شي.

ریښتیا د سترېدو او لوړیدو حرص څومره غولوونکی او ربړونکی دی.

کله چې لوی شولو، په دې وپوهېدو چې لوی په حقیقت کې هغه نه دی چې عمر یې زیات او قد یې لوړ شي، بلکې لوی هغه دی چې لوی کارونه او لوی فکرونه وکړي، او هغه لوی کارونه چې مونږ په کوچنیانو کې وینو په لویانو کې نه لیدل کېږي، که چېرې مشران په کومه خبره سره خفه شي، نو په کلونو کلونو یو بل سره نه مخ کېږي، خبرې سره نه کوي او زړونو کې یو بل سره کرکه او نفرت کوي، خو مونږ بیا هم دوی لویان بولو او ماشومان -چې زړونه یې د هنداري په شان پاک وي- هغوی ماشومان او کوچنیان بولو. هو! مونږ په مادي نړۍ کې د هر موجود د ظاهري بڼې په لیدو قضاوت کوو، مونږ هغه لوی بولو چې ظاهراً غټ او لوی وي او هغه چې ظاهراً وړوکی وي هغه ته کوچنی وایو، خو په معنوي نړۍ کې بیا هر څه بدل دي او په حقیقت کې ډېر داسې شیان چې مونږ یې وړوکي بولو ډېر لوی دي او ډېر داسې انسانان چې مونږ یې غټان بولو ډېر وړکی فکر لري او واړه کارونه هم نه‌ښي کولای.

افغانستان

د کوکنارو د تولید ریکارډ ماتونکی هېواد!

له مخدره توکو او جرایمو سره د مبارزې اړوند د ملګرو ملتو دفتر (UNODC)، په خپل کلنۍ سروې راپور کې ویلي، چې په ۲۰۱۷ کال کې په افغانستان کې تر بل هر وخت زیات مخدره توکي تولید شوي. د ملګرو ملتو یاد دفتر، چې له ۱۹۹۴ را په دېخوا په افغانستان کې د کوکنارو له کښته څارنه کوي وایي، چې سږ کال په ۳۲۸،۰۰۰ هکتاره زمکه کوکنار کرل شوي وو. دا شمېره هغو ولایتونو ته شامله ده چې مخکې پکې مخدره توکي نه کرل کېدل.

د ۲۰۱۷ کال په جریان کې د کوکنارو په کرنه کې د ۱۰۴،۰۰۰ هکتاره زمکې په کچه زیاتوالی راغلی، یاد شمېر د ۲۰۱۴ کال په پرتله -چې پکې ۲۲۴،۰۰۰ هکتاره کوکنار کرل شوي وو- ډېر لوړ دی. د (UNODC) راپور له مخې سږکال په افغانستان کې ۶،۰۰۰ متریک ټنه مخدره توکي تولید شوي، چې په ۲۰۱۶ کې دا اندازه ۴،۰۰۰ متریک ټنه وه. راپور زیاتوي چې د مخدره توکو د زیاتوالي یو لامل د کرل شوې زمکې ښه حاصلات دي، په دې کال کې هر یوه هکتار زمکې ۲۷،۳ کیلو ګرامه حاصل ورکړی، یاده اندازه د ۲۰۱۶ په پرتله ۱۵ فیصده زیاته ده.

(UNODC) وایي: ۶۰ فیصده کوکنار د افغانستان په سویلي ولایتونو کې کرل کېږي. او د افغانستان په سطحه د تولید زیاتوالی یې هم په یادو ولایتو کې د زیاتې کرنې له و جې دی. سږکال یوازې په هلمند ولایت کې د کوکنارو په کرنه کې د ۶۳،۷۰۰ هکتاره زمکې په اندازه زیاتوالی راغلی ؤ، چې د ټول افغانستان د کوکنارو محصول د زیاتوالي نیمه برخه ده.

په همدې کال د کوکنارو کښت په بلخ ولایت کې د ۲۰۱۶ په پرتله +۱۰،۰۰ هکتاره، په کندهار کې +۷،۵۰۰ هکتاره، نیمروز +۶،۲۰۰ هکتاره او ارزګان کې +۶،۰۰ هکتاره زمکه زیات شوی.

همدارنګه په ۲۰۱۷ کې کوکنار په هغو ولایتو کې کرل شوي کوم چې پخوا د کوکنارو له کښته پاک وو، لکه غزني. په سمنګان او نورستان کې بیا له ۲۰۰۷ راپدیخوا کوکنار کرل کېږي. په ټولیزه توګه په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان له ۳۴ ولایتو څخه په ۲۴ هغو کې کوکنار کرل شوي، چې د ۲۰۱۶ په پرتله چې پکې په ۲۱ ولایتو کې کوکنار کرل کیدل زیاتوالی راغلی.

په شمالي ولایتو لکه: بغلان، بلخ، بامیان، فاریاب، جوزجان، سمنګان او سرپل کې د کوکنارو کرنې له ۲۰۱۴ څخه راپدیخوا زور اخیستی، دا پداسې حال کې ده چې په ۲۰۱۴ کې یوازې په دریو شمالي ولایتو بلخ، فاریاب او سرپل کې دا کښت کیده. په ۲۰۱۷ کې یوازې په بامیانو کې د کوکنارو کښت صفر ؤ خو په پاتې نورو شپږ شمالي ولایتو کې په ۴۳،۰۰۰ هکتاره زمکه کې کرل شوي وو.

(UNODC) وایي، ناامني، حکومتي فساد، سیاسي بې ثباتي، اقتصادي بازارو ته د افغاني بزګرانو نه لاس رسی، او په ټولنیز او اقتصادي برخو کې د بزګرانو لپاره د بل بدیل نشتون، هغه عوامل دي چې د کوکنارو په زیاتوالي یې اغېز ښیندلی.

(UNODC) خبرداری ورکوي چې د کوکنارو په کرنه کې زیاتوالي به دولت له ډېرو ننګونو لکه نا امني، بې ثباتي او تروریستي ګروپو زیاتوالي سره مخ کړي. همدارنګه په فساد ککړ دولتي چارواکي، د دولت ضد وسلوال او مجرمین هغه کسان دي چې د مخدره توکو له لارې پسې لاسته راوړي.

په افغانستان کې د کوکنارو د محصول زیاتوالی به د یاد هېواد په ګاونډیو او هغه ملکو اغېز وښیندي چې له افغانستان سره ټرانزیټي لاره لري. او په ۲۰۱۸ کې به په نړیواله کچه په ټولو هېوادونو کې د هیروینو قاچاق زیاتوالی محسوس شي. دا پداسې حال کې ده چې په ۲۰۱۵ کال کې په افغانستان کې په مخدره موادو د روږدو کسانو شمېر د ۲،۵ میلیونو او ۲،۹ میلیونو وګړو ترمنځ ؤ.

سرچینه: د افغانستان د تجلیګرانو شبکه

از صفحات facebook

ترکیه
ښه او بد

ډاکټر وحیدالله مصلح

ماډرنېزم او د عثماني خلافت د عظیمې دورې میراثونه په موازي ډول د نوې ترکیې نښې دي، هلته که د اوسني عصر پرمختګونه ګورئ، دنګې ودانۍ او اقتصادي ماشینونه ګورئ، ستر ستر بازارزونه، او هیولا بېړۍ وینئ، د نړۍ دریم ستر هوایي میدان ګورئ، لوی لوی پوهنتونونه، ستر روغتیایي مرکزونه او له دې سره په څنګ کې نظامي پرمختیاوې او بوختیاوې وینئ، نو د دې ټولو پرمختګونو سره په څنګ کې به هلته د عثماني دورې لوی لوی میراثونه ګورئ او د نړۍ سیلانیان به ګورئ چې د عثماني مدنیت دې میراثونو ته رامات دي، دوی د ترکیې تاریخ دلته راکش کړي او د دې تاریخ غوښنه برخه عثمانیانو جوړه کړې.

د ترکیې په کوڅو او بازارونو، پوهنتونو او دفترونو او په هر ځای کې به تاسو ته ډېرې محجبې مېرمنې په نظر در شي، دغه دینداري د کوم فشار او زور پایله نه ده، بلکه ترکي ملت له خپل اصالت سره اړیکې نه دي شکولي، او هلته د اسلامیونو اوږده کار او د ملت همغږۍ دغه بیداري رامنځته کړې.

د استانبول په لنډو، لنډو واټنونو کې مسجدونه دي، مسجد تل په مونځ کوونکو ښکلی وي، ځوانان او زاړه لمونځونو ته روان وي، په یو شوق لمونځ کوي او په یوه عاجزۍ دعا، ډېر په مینه له خدایه غواړي او بیا په بیړه خپلې دنیا پسې روان شي... مسجدونه یې ډېر په سلیقه او نظافت برابر دي، تودې اوبه، برېښنا، د هوا ګرموونکي او سړوونکي وسایل، قیمتي قالینې په جوماتونو کې شته. د هر جومات په څنډه کې د ښځو لپاره جلا ځایونه وي، هلته حجابونه ځړېدلي وي، حتی داسې مېرمنې هم شته، چې له بازاره لوڅ سر راشي خو دلته حجاب واغوندي خپل لمونځ وکړي او بېرته لاړې شي، هغه بې حجابي یې په خپل ځای یو مغایر حالت خو دا د لمونځ فرهنګ یې یو مثبت تغیر چې انسان هیله من کوي.

ترکیه مجهز روغتونونه او صحي خدمتونه لري، د ترکیې روغتیایي خدمتونه د اروپا په نسبت ارزانه او په عین وخت کې د اروپا پر معیار وړاندې کېږي، ځکه خو ترکیې ته د تداوۍ لپاره ډېر مراجعین خپله له اروپا او عربي نړۍ راځي، افغانان هلته د تداوۍ لپاره ډېر ځکه نه ځي، چې یو خو د وېزې ستونزه ده او له بله اړخه د درملنې قیمت په ترکیه کې زمونږ له ګاونډیو هېوادونو لوړ دی، خو کیفیت یې بیا پر نورو بره دی.

په ترکیه کې ښاروالی د خدمت مرکزونه دي، ښاروالان په انتخابي شکل ټاکل کېږي، اوسني حاکم ګوند د همدغو ښاروالیزو خدمتونو له لارې په ولس کې محبوبیت پیدا کړی، د دوی مشران اکثره د سترو ښارونو ښاروالان پاتې شوي، حتی ارواښاد استاد نجم الدین اربکان په خپل وخت کې د استانبول له بریالیو ښاروالانو وو، رجب طیب اردوغان هم د استانبول ښاروال پاتې شوی او دا اوسنی ښاروال هم د عدالت او پرمختګ ګوند غړی دی، په ترکیه کې رایه تر ډېره د ښاروالي خدمتونو په رڼا کې ټاکونکې وي، هلته چې کله خلک ګوري د حاکم ګوند د ښاروالانو ښاري پرمختګ ډېر چټک دی، او کله چې د خپلې سیمې وروسته پاتې حالت ورسره پرتله کوي نو راتلونکو ټاکنو کې د حاکم ګوند کاندید ته رایه ورکوي...

په قونیه کې مذهبي رنګ ډېر زورور دی، د مولانا بلخي روحاني پېر لا هم هلته د اغېز مظهر دی، مولانا چې کله هلته تللی وو نوموړي، مریدانو او شاګردانو یې په منطقه کې د اسلام په پرمختګ کې بېسارې داعیانه هڅې کړي، د نننې اسلامي هویت پر لمن د مولانا روحانیت تر ټولو راښکونکی سینګار دی.

ترکیه د ښو اړخونو په حصار کې یو شمېر ترخه واقعیتونه هم لري، ترکیې له خپلو ګاونډیانو سره د پخواني صدراعظم داوود اوغلو د رواداری پالیسي، په ګاونډیو هېوادونو کې پر لاسوهنې او خوني مداخلې ککړه کړې، په ځانګړي ډول د سوریې په حالت کې یو مسئول لوری ترکیه هم ده... داسې ښکاري چې په ترکي نسل کې د جنګ شوق او مینه رنګونه اخلي، په انقره کې مې یو کوچنی لیدلو چې له موټره یې مور کوزېده او ده پرې پر پلاستیکي تومانچې له موټره ډزې کولې، مونږ چې د خپل هېواد د تر ۴۰ کلونو اوږدې جګړې سوځېدلی نسل یو، دې منظر ته خوشاله نه شوم... د ترکي سریالونه ډېرې هغه یې د فلسفي، عاطفي او ژوند د مسایلو پر ځای د ډزو د فرهنګ پر محور څرخېږي، دا هر څه د یو جنګي سوچ د ودې شاخصونه دي.

ترکیه د افغانستان په اړه په یوه ژور کړون کې د داسې یو چا انډیوالي کوي چې دلته په سختو جنګي جرمونو او وژنو تورن دی، کله چې اردوغان له دوستم سره په خپل نرګسي قصر کې خوشګوارې کتنې کوي، رنګین او له ډالیو ډک حالتونه لري، عکسونو ته په سلو اداګانو ودرېږي، دا نو هغه څه نه دي چې ګنې اردوغان د ماضي له یوه ترخه واقعیت سره تعامل کوي... اردوغان په هر څه پوهېږي، هغه مجبور نه دی چې قومي اړیکه یې دومره راټیټ کړي...

ستا قد د انځر زه د چنار قامت
سیاله لږ خو ونې ته دې وګوره

habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

نماز ستون دین است!

هر کسیکه نماز را در وقتش ادا میکند ودر ادای آن کاهلی وسستی نه کند الله (جل جلاله) توسط (۹) چیز وی را اکرام می‌نماید:

۱: الله با وی محبت می‌ورزد.

۲: صحت و تندرستی را به وی عطا می‌کند.

۳: فرشته ها حفاظت او را می‌کند.

۴: الله (جل جلاله) در خانه و کارهایش برکت می‌اندازد.

۵: چهره او را نور و رونق می‌بخشد.

٦: قلب او را نرم می‌سازد.

۷: عبور از پل صراط را برایش آسان می‌سازد.

۸: او را از آتش جهنم نجات می‌دهد.

۹: بلا خره از او راضی شده و اورا داخل جنت می‌نماید.

د توبې دروازه

فضیل بن عیاض رحمة الله وایې چې ما د صبر چل له کوچنې ماشوم څخه زده کړ. هغه داسې چې یوه ورځ په لار روان وم، یوې ښځې خپل وړوکی زوی وهلو، هلک ډیرې بدې چیغې وهلې، ناڅاپه هلک د تېښتې لار وموندله او د سترګو رپ کې له خپلې مور څخه وتښتید. زه له خپل کار څخه فارغ شوم، او بېرته پر همدې لار را روان شوم، ګورم چې هلک د خپل کور دروازه ټکوي، خو مور یې ځنځیر کړې وه، ور یې ډېر وټکاؤ، وروسته هلک ته خوب ورغی او د دروازې تر شا ویده شو، وروسته یې د مور زړه ورته وسوزید اودروازه یې ورته خلاصه کړه، ګورې چې زوی یې په خاورو کې ویده شوی دی، مور یې کلک په غېږ کې ونیو، پر سر یې ښکل کړ او کور ته یې دننه کړ. نو فضیل بن عیاض دومره ورته وژړل چې ږېره یې په اوښکو لمده شوه او بیا یې وویل: کاش مونږ د خپل رب د توبې دروازه همداشان وټکوو ترڅو چې زمونږ توبه قبوله شوي نه وي بیرته ستانه نه شو او حال دا چې د کایناتو خالق تر مور او پلار ډېر مهربانه دی. یا الله زمونږ توبه قبوله کړې.

غټه فتنه!

له جابر رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

ابلیس علیه لعنة خپل عرش پر اوبو ږدي او بیا خپلې لښکرې استوي، په دوی کې چې څوک شیطان ته نږدې وي هغه تر ټولو د لوی او غټ فتنه اچونکی وي.

په دوی کې یو راشي او ابلیس ته ووایي: چې ما داسې او داسې وکړل. ابلیس ورته وایي: تا څه هم نه دي کړي. بیا بل راشي او ورته ووایي: ما فلانی سړی تر دې پرې نه ښوده تر څو چې مې د هغه او د هغه د مېرمنې ترمنځ جداوالی را نه وست. ابلیس هغه ځان ته نږدې کړي او ورته وایي: ته په ټولو کې ښه یې. اعمش وایي: هغه په غیږکې نیسي.

اوسنی حال

په ورانکارو چې کارونه جوړوي

حقیقت کې جوړ کارونه ورانوي

یا ټګي یا ډیره زیاته سادګي ده

چې بتان په بت پرستو ورانوي

گل‌پاچا الفت رحمه الله

معلوماتي

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

ټلویزیون زیات مه‌ګورئ

د راپورونو له مخې په امریکا کې د ټلویزیون د پروګرامونو له لیدلو سره د کینسر او نورو وژونکو ناروغیو د ارتباط د لرلو په هکله یوه څېړنه تر سره شوې‌ده.

د دې څېړنې له مخې د امریکا اتیا فیصده خلک هره ورځ کابو درې ساعته ټلویزیوني پروګرامونه ګوري، کوم چې د صحت او روغتیا لپاره خطر لرلی شي .

د امریکا د ملي انستتیوت اداري د څېړنو پراساس د دغه هېواد په څه دپاسه دوه لکه خلکو -چې عمرونه یې له پنځوسو تر اویا کلونو پورې وو- څېړنه تر سره شوه چې دې کسانو کومه خاصه ناروغي نه لرله.

د څېړنې له پایلې وروسته دا په ډاګه شوه چې هغه کسان چې تر ډېره ټلویزیون ګوري په هغو کې د سرطان، زړه، شکر، حساسیت، پارکینسن او د ځیګر په شان ناروغیو د رامینځته کیدا احتمال زیاتیږي .

په دغه تحقیق کې ویل شوي دي چې په هغو کسانو کې چې هره ورځ کابو درې یا څلور ساعته د ټلویزیون پروګرامونه ګوري، د هر ډول ناروغۍ د رامینځته کیدا احتمال (۱۵) فیصده وي، خو په هغو کسانو کې چې (۷) یا (۸) ساعته ټلویزیون ته کیني، بیا د ناروغیو درامینځته کیدا احتمال (۴۷) فیصده وي .

مناجات

آدمـــی اندر جهان هـــفـت رنگ
هـــر زمـــان گـــرم فغان مانند چنگ
آرزوی هـــم نفـــس می سوزدش
نالـه هـای دل نـــواز آمـــــوزدش
لیکن این عالم که از آب و گل اســت
کی توان گفتن که دارای دل اســت
بحر و دشت و کوه و که خاموش و کر
آسمان و مهر و مه خاموش و کـــــر
گرچه بر گردون هجوم اخـــتر است
هر یکی از دیگـــــری تنها تر است
هـــر یکـــی مـانند ، بیچاره ایســت
در فـضـای نـیـلگـون آواره ایـــست
کاروان بـــرگ سفـــر ناکـــرده ساز
بیکـــران افلاک و شـــب ها دیـــر یاز
ایـــن جـــهان صید است و صیادیم ما
یا اسیـــر رفـــــته از یـادیـم مـا....

علامه اقبال لاهوری

تصور ما از عذاب، محدود است!

تصور ما از «عذاب» محدود است. بسیاری از ما فکر می‌کنیم حتمن باید از آسمان سنگ ببارد، یا زمین دهن بگشاید. اما آنچه پیش از این رخ می‌دهد بدتر است.

بدتر از بارش سنگ از آسمان، سنگ شدن دل است. آنطور که ابن قیم می‌گوید: «هیچ بنده‌ای دچار مجازاتی بدتر از سنگدلی و دوری از خداوند نشده».

چیزی است شبیه بلاک شدن. مانند آن دوستی که تا وقتی به تو امیدی دارد، شاید تندی کند، شاید گله‌ای؛ اما این یعنی هنوز تو را می‌خواهد. ولی نیاید روزی که آخرین بازدیدش «last seen a long time ago» باشد. این یعنی تمام. دیگر امیدی نیست.

و این همان چیزی است که از طوفان و بارش آتش و هر عذاب دیگری بدتر است. این همان بلایی بود که فرعون پیش از غرق شدن دچارش شد. سنگدلی که در «آب» غرق شد، تا به «آتش» وارد شود.

در واقع اگر دل سنگ شد، شاید از آسمان سنگ ببارد، شاید هم نبارد؛ یا شاید سنگدلی بر روی تخت بیمارستان «به ظاهر» آرام از دنیا برود...

اما هر چه هست، سنگ‌ها به آتش منتهی می‌شوند، «آتشی که هیزمش مردم‌اند و سنگ‌ها».

سایه‌ساران

قرآن و نبوت

(بخش اول)

ترجمه: قاسم محمدی

آغاز روز «ماه صفر۱۴۰۳» است و به اخبار جهان گوش می‌کنم: «کانگریس امریکا بودیجه نوع جدیدی از راکت‌ها را تصویب نموده است که هدف از آن مقابله با روسیه در این عرصه گفته می‌شود. عربستان سعودی پیشنهاد قرضه چند ملیارد دالری به فرانسه برای حمایت از فرانک داده است؛ تحلیلگران می‌گویند: «هدف آنست که هردو کشور در قضیهء فلسطین به یک توافق برسند». دولت نژاد پرست جنوب افریقا ونمایندگان آن وظیفه دسیسه گری و تخریب کشورهای افریقای سیاه را بدوش دارند.

جهان متحرک و پرهیاهو. آیندهء انسانیت هم در گرو کشمکش‌های اتمی افتیده است. اموال مسلمان‌ها بگونه رشوت به جیب کشورهای می‌رود که عربها را در معامله‌های زیان تأیید می‌کنند. استعمارگر اروپائی همه جا در زمین فساد به پا می کند. در این اخبار ذکری از آتش سوزی هولناک بیروت نمی آید با آنکه تا حال کمتر از ۵ ماه از این حادثه گذشته است.

در هیچ گوشه اخبار ذکری از فلسطین اشغالی وبرنامه‌های شهرک سازی کیان اشغالگر در «زمین های اشغالی» نمی آید. زمین های اشغالی حالا عنوانی شده است برای آن جزء از سرزمین فلسطین که گروه مجرم یهود آنرا قبضه کرده اند، همانگونه که بیت المقدس وزمین اطراف آنرا قبضه نموده اند. زمین که خداوند آنرا برکت داده است، اما عربها ضائعش کردند وسرانجام نامش تبدیل به اسرائیل شد. جهان پر تحرک و پر جوشی می‌باشد. و کسیکه در این جهان از وحی و نبوت سخن می‌گوید انسان خیالی معلوم میشود. برای انسان غافل از خدا سخن گفتن در باره «منهاج نبوی» خدا ورسول در بحبوحهء این رویدادهای داغ گریز از میدان مواجه معلوم میشود بخاطریکه رهبری جهان از دست امت اسلام بیرون رفته است، امتی که قرنها دراز در سراسرجهان به نام خدا حکومت کرده است و از سنت پیامبر پیروی می‌نمود. تا جایکه جهان امروز عادت کرده است که رویدادهای خود را به دور از خالق جهان و پیام الهی به تماشا بنگرد، به دور از ر هبری برگزیده خدا برای بشر محمد صلی الله علیه وسلم.

این را اصرارا برای آن می نویسم که چون «منهاج نبوی» یک مسلکی است که دنیا را با تمام قوتها، فعالیت‌ها تنشها و کشیدگی‌هایش بیان نموده از آن فرار نمی کند. زیرا قرآن کلام خداست، خداوندی که جهان را اداره نموده آنگونه که می‌خواهد در آن حکم می‌کند.

تقدیر خداوند در جهان همانگونه عملی می‌شود که خود او تعالی می‌خواهد، و ما در آنچه انجام می‌دهیم مغلوب و مقهور ولاچاره می‌باشیم. آنچه انجام می‌دهیم و مسؤولیت ما در قبال شکست خودمان، همان شریعت الهی می‌باشد.

برگشت بسوی شریعت خدا آنگونه که آنرا تقدیس و تعظیم نموده و به خواست آن عمل کنیم گامهای ما را در صراط مستقیم الهی استوار می کند واین همان چیزی است که نتجیه اش احدی الحسنیین می‌باشد. پیروی از رسولی که برایش وحی شده است همان منهاج می‌باشد. این بود ارتباط عنوان فصل با آنچه در جهان می‌گذرد.

الله متعال خطاب به پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم می‌فرماید: (كَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا مَا كُنتَ تَدْرِي مَا الْكِتَابُ وَلَا الْإِيمَانُ وَلَكِن جَعَلْنَاهُ نُورًا نَّهْدِي بِهِ مَنْ نَّشَاء مِنْ عِبَادِنَا وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَىَ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ* صِرَاطِ اللَّهِ الَّذِي لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ أَلَا إِلَىَ اللَّهِ تَصِيرُ الأُمُورُ)، (شورا: ۵۲و۵۳).

ترجمه: «وهمین گونه روحی از امر خودمان به سوی تو وحی کردیم تو نمی‌دانستی کتاب چیست و نه ایمان [کدام است] ولی آن را نوری گردانیدیم که هر که از بندگان خود را بخواهیم به وسیله آن راه می‌نماییم و به راستی که تو به خوبی به راه راست هدایت می‌کنی. راه همان خدایی که آنچه در آسمانها و آنچه در زمین است از آن اوست هش‌دار که [همه] کارها به خدا بازمی‌گردد»

وحی از جانب خدا به رسول خدا. نوری که به ما آورده شده است، ودر میان ما باقسیت. تنها با همین نور راه ما روشن می‌شود. تنها

با همین نور به صراط مستقیم می‌رسیم، صراط خداوندی که مالک آسمان ها و زمین می‌باشد. خداوند غیب که به آن ایمان داریم. خداوند همین زمین که ما در آتش رویداد های داغ آن می‌سوزیم.

پناه گاه ما هم الله ورسول می‌باشد؛ پس کجا می‌رویم؟ تمام مذاهب گمراه ما را تخته مشق خود نموده زندگی ما را تباه نمودند. در حالیکه نور الهی در میان ما وجود دارد.

وای بر هلاک شوندگان! هلاک شوندگان کسانی اند که از محمد صلی الله علیه وسلم به عنوان یک نابغه و قهرمان قومی سخن می‌گویند. الله متعال خطاب به امثال آنها می‌گوید: (وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى* مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى* وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَى* إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى)، (نجم۱تا٤).

ترجمه: « سوگند به ستاره (= قرآن) چون فرود می‌آید. که یار شما نه گمراه شده و نه در نادانی مانده. و از سر هوس سخن نمی‌گوید. این سخن بجز وحیی که وحی می‌شود نیست».

یک بنده‌ی که بسویش وحی میشود؛ وحی ورسالت که مناط ایمان را تشکیل می‌دهند. وبرای همین است که قوم پرستان وباداران خاورشناس آنها همیشه هجوم خود را متوجه وحی ورسالت می‌نمایند تا اینکه یقین آنها را در قبال مأمور بودن محمد صلی الله علیه وسلم از جانب خالق زمین وآسمان با خلل مواجه کنند. می‌خواهند یقین مسلمانها را نسبت به مبعوث بودن محمد صلی الله علیه وسلم ازجانب خالق انسان ونسبت مصیر بشری از دنیا به آخرت متزلزل کنند. آنها با بیان اوصاف بی جای چون نابغه و قهرمان می خواهند این واقعیت را بپوشانند که این بنده خدا در اولین تجربه وحی ودیدن جبریل علیه السلام دهشت زده شده بود، و بعدها بود که با جبریل انس گرفت، قرآنکریم را دریافت نموده قوم خود را بسوی آن فرا خواند. سپس در راه آن اذیت شد وصبر نمود. سپس تربیه نمود وجهاد کرد. وسر انجام مشعل هدایت الهی تا قیام قیامت قرار گرفت بنده‌ی که از نزد خود شریعت نمی‌ساخت. اگر برنامه هم می‌ریخت مطابق وحی الهی و با توفیق الهی می‌بود. واگر سلاح برداشت کارش به فرمان الهی بود. اگر سخنی گفت برای خدا گفت، تحرکش به اجازه پروردگار وقهرش بخاطر او تعالی و دوستی‌اش خالص برای خدا بود. خلاصه یک بنده‌ی بود ربانی، الهی و خدایی. یک بنده‌ی که برایش وحی میشد.

قرآنکریم تازه و شکوفا برای همرکابی با این حرکت تاریخی نازل میشد. قرآن آنرا رهبری می‌نمود. قرآن علم بود ومنهاج بود. قران برنامه زنده گی بود ونور رهنمونگر به سوی صراط خداوندی بود. دیدگاه این بنده خدا همراه با دیدگاه اصحابش واضح و راحت بود نه پریشان و پیچیده. قرآن یک میراث فرهنگی نبود که حوزه‌ی از فکر و قفسچه‌ی از کتابخانه را اشغال کرده باشد. قرآن خودش فهم بود، قرآن خودش علم بود.

بلکه قرآن خودش زندگی بود. در میان أوضاع جاهلی و آنچه قرآن بسوی آن فرا میخواند هم تناقص شدید وجود داشت. آنگه بود که اهل قرآن قیام کردند. هر آنچه را که مانع رسیدن به خدا بود نابود کردند. منکر را از میان برداشتند وواقیعت ها را به اساس دستور الهی استوار نمودند.

انسجام واضح این بنده صادق و پیامبر خدا، در وحی الهی نمودار بود و در جماعتی که بقول سید قطب «نسل قرآنی» بودند ظاهر میشد. در سلوک اهل قرآن زندگی چند پارچه نبود. زندگی ومرگ، دنیا وآخرت، عابد ومعبود همه اینها را عقیده توحید ورسالت وایمان به ملائک، بعث بعد از موت وقدر در خود جمع می‌نمود. آنها را یک منهاج در راه خدا حرکت می داد. این گونه نبود که عاطفه در یک وادی باشد وعقل آواره تحلیل فلسفی. انسان انسان بود در حالیکه ما پیچیده و پریشان شده ایم. هدف ما از پیروی «منهاج نبوی» اینست که به خودمان سروسامان بدهیم عقل وعاطفه را با ماضی وحاضر، ومصیر زندگی را با دین ودنیا وآخرت یکسره کنیم. افرادی شویم که هویت خود را بشناسیم، مفهوم بندگی به خدا ومسؤولیت خود نزد او سبحانه وتعالی را درک کنیم. جماعتی باشیم که مصیر تاریخی خود را دقیق بشناسیم وآمادگی وتوان برای جهاد داشته باشیم. نسل اول قرآنی تنها با همین قرآن اسرار پنهان نفس بشری وکیان بشری را فتح کردند. وحی الهی این اسرار را به آنها آشکارا نمود. بوسیله همین قرآن تناقض ظاهری عقلانی میان انسان وانسان، میان انسان وجماعت ومیان بشر وجهان هستی رفع ومتلاشی گردید.

بوسیله همین قرآن انفاس مؤمنه، جامعه با ایمان وحرکت ایمان محور در جهان به راه افتید. اهل قرآن بوسیلهء قرآن، الله متعال را شناختند وهمین قرآن را مشعل خود در سلوک نفسی ومعراج روحی در درجه های ایمان قرار دادند وسرانجام با همین قرآن همان قوتی شدند که شرک باطل را شکسته عدل را قائم نمودند.

قرآنکریم تازه و شکوفا برای همرکابی با این حرکت تاریخی نازل میشد. قران برنامه زنده گی و نور رهنمونگر به سوی صراط خداوندی بود. دیدگاه رسول الله صلی الله علیه وسلم و اصحابش واضح و راحت بود نه پریشان و پیچیده. قرآن یک میراث فرهنگی نبود که حوزه‌ی از فکر و قفسچه‌ی از کتابخانه را اشغال کرده باشد. قرآن خودش فهم بود، قرآن خودش علم بود.

کسیکه در این جهان از وحی و نبوت سخن می‌گوید انسان خیالی معلوم میشود. برای انسان غافل از خدا سخن گفتن در باره «منهاج نبوی» خدا ورسول در بحبوحهء این رویدادهای داغ گریز از میدان مواجه معلوم میشود بخاطریکه رهبری جهان از دست امت اسلام بیرون رفته است.

خندا او ټوکې

شرعي حدود او ټولنيز آداب

لیکنه: دوکتور یوسف القرضاوي

ژباړه او تلخیص: محمد خالد ملکزی

ټوکې او خندا کول په اسلام کې یو روا عمل ګڼل کېږي، دا ځکه چې خندا او خوشحالي د انسان یو فطري اړتیا ده. خندېدونکی انسان ددې لپاره غواړي وخاندي تر څو په خپل ورځني ژوند کې د ټولو هغو سختیو، کړاوونو او بوختیاو په نتیجه کې لږه تفریح ترلاسه کړي کوم چې دده ژوند ګواښوي او پدې توګه سره د ګیلو او اندېښنو دروند پېټی له خپلو اوږو څخه په کړس خنداګانو سره لږ څه سپک کړي. واقعیت هم همدا دی چې ادبي ټوکې د انسان په فکر او مغزو باندې رغنده اغېزه لري او زیاتې ګټې رامنځ ته کوي؛ لکه: انسان ته ددې فرصت ورکوي تر څو تازه اکسیجن (Oxygen) تنفس کړي، په دې بې وفا نړۍ کې خپل غمونه لږ څه را کم کړي او د دردونو او ناهیلیو په موجونو کې مقاومت ترلاسه او له خوښیو څخه څو ډکې شېبې ژوند پر مخ یوسي؛ مثبت فکر ایجاد او د ناهیلیو په سمندر لاهو نشي؛ خو له بده مرغه زمونږ په افغاني ټولنه کې یو لږ خلک د ټوکو او د نورو د خندولو لپاره خورا پرېوتي کلمات کاروي، پدې پلمه چې نور وخندوي دومره د عفت او عصمت څخه منافي خبرې کوي چې په اورېدلو سره یې انسان د شرم احساس کوي؛ او داسې انګیري چې د نورو د خندولو لپاره که چېرې له دروغو، دوکې ورکولو، له اجازې پرته پر نورو د ملنډو وهلو او د نورو له وېرولو څخه کار واخیستل شي؛ نو دا کار به هېڅ کومه ستونزه ونلري، پداسې حال کې چې په وینا کې د خندا اندازه باید د مالګې په پیمانه وي.

له همدې کبله یو لږ بې پروا خلک د غم پر مهال له خندا او د خندا پر مهال د غم ښکارندوینه کوي او د ټولنې د عُرف دود او دستور څخه خلاف ټوکې تر سره کوي او داسې تصور کوي چې د دوی دا کار به هېڅ ستونزه ونلري، پداسې حال کې چې د همدې حکمتونو په پام کې نه نیولو سره خورا ټولنیزې غمیزې او مشکلات رامنځ ته کېږي؛ او لکه څرنګه چې زیاته مالګه خواړه فاسدوي، همداراز بې چوکاټه ټوکې خوښې په غم او دوستي په دښمنۍ باندې بدلوي.

اوس به راشو اصلي ستونزې ته؛ د شاګرد لمانځغونډې په مناسبت زه هم د نورو استاذانو په څېر دې غونډې ته بلل شوی وم؛ او ما هم په خورا مینه او لېوالتیا پکې ګډون وکړ. پدې غونډه کې چې د پوهنتون رئیس، په لسګونو استاذان، مدیران او په سوونو محصلینو ورونو او خوېندو ګډون کړی وو، د تمثیلي ټوټې لپاره دوه تنه ځوانان د ستېج مخې ته راوبلل شول؛ دوی غوښتل چې د اوباشه(لوپرو محصلینو) رول اداء کړي، پدې کې دوه خوېندې هم د ستېج مخې ته راوبلل شوې کومو چې د پوهنتون د محصلاتو رول اداء کاوه، کله چې دوی دواړه د ځوانانو له مخې تېرېدلې یو تن پرې غږ وکړ، (او دختر کجا میری، کوشتي مارا، من ترا دوست دارم، زه له تاسره مینه لرم.)

د دې خبرو په اورېدلو سره خدای شته ډېر خواشینی شوم؛ پر ما د هغوی دا خبرې لږې درنې تمامې شوې؛ او د درد احساس مې وکړ، بیا مې له ځان سره وویل: دا په اخلاقي فقر اخته او فرصت طلبه خو ځوانان تمثیلي ټوټه د ځان لپاره پلمه ګرځوي او پدې توګه سره غواړي له پردیو انجونو سره مزحرفې ټوکې وکړي. زما په فکر په ورځني ژوند کې ساینسي، اقتصادي، ژورنالیزم، انجینري او داسې نورو علومو تر څنګ د شرعي علومو زده کړه هم خورا مهمه ده، پدې معنا چې هر مسلمان باید په خپل ورځني ژوند کې څلور ډوله علوم حتمي زده کړي؛ لکه: د حلالو او حرامو پېژندل، په لوړو او حمیده اخلاقو د ځان روزل، د فرائضو او واجباتو پېژندل او د روغې عقیدې (د الله تعالی په اړه د سم تصور) زده کول د هر مسلمان او په ځانګړې توګه د هر ځوان او پیغلې لپاره خورا اړین علوم ګڼل کېږي.

د نورو د خندولو لپاره پر ځان ملنډې او ریشخند وهل؛ او حتی د نکاح او طلاق په څېر په حساسو او سرنوشت سازه مسائلو کې ټوکې او خندا کول آیا د عقلمند انسان نښه ده؟ آیا تمثیلي ټوټه د همدې معنا لري تر څو د نورو له نوامیسو سره لوبې وشي او د هغوی پر عزت او غیرت ملنډې ووهل شي؟

زمونږ تر چوکیو شاته سلګونو ځوانانو ناست ول، په دوی کې چا شپیلقونه وهل او چا چک چکې وهلې. کېدای شي دا ټولې ستونزې شاید د همدې کبله وي چې زمونږ ګران هېوادوال لا تر اوسه د افراط او د تفریط له رنځ څخه ندي خلاص شوي، یا خو مونږ انجونو ته د تعلیم هېڅ حق نه ورکوو او یا ورته دومره آزادي ورکوو چې د پوهنتون په پاک چاپېریال د ټولنې د اوباشه ځوانانو سره تمثیلي پارچې وړاندې کړي، مزخرفه ټوکې وکړي او هغوی هم ورته د مینې الفاظ کاروي. زما په نظر د هلکانو او انجونو ګډ تعلیمي نظام د پرمختګ پر ځای مو ځوانان د ځوړتګ لوري ته بیایي او بشري انحرافاتو ته لارې هواروي دا ستونزه کېدلای شي په همدې سره حل شي چې زمونږ هېوادوال په هر کار کې تر هر څه دمخه د هغه له شرعي حکم څخه ځان خبر کړي او بیا یو عمل تر سره کړي. مونږ پدې لیکنه کې د همدې رنځ د درملنې لپاره د ټوکې او خندا کولو څو لنډو آدابو ته غواړو اشاره وکړو چې

دلته به یې په مناسب لنډیز سره یادونه وکړو: اسلام د یو کامل او شامل دین په توګه سره د ژوند په هره برخه کې زمونږ لپاره لازمي لارښودني لري؛ او د ژوند په هېڅ برخه کې اسلام له پرون څخه تر ننه بې ځوابه ندی پاتې شوی؛ بلکې د هرې مسئلې په اړه یې بس کوونکي ځوابونه وړاندې کړي دي. په ټولنیز ژوند کې اسلام د خندا لپاره هم ټاکلي حدود لري؛ خو دحدودو دا وضع کول هېڅکله هم ددې معنا نلري چې اسلام د خندا او ټوکو سره مخالفت لري؛ او زه فکر کوم دا خبره به هغه څوک کوي، څوک چې د قرآن له حقیقت او طبیعت څخه خبر نه وي. د خوښۍ او خندا په اړه دوکتور عمر عبدالعیص وایي چې(۱): ((په قرآن کریم کې د فرح(د خوښۍ او خندا) کلیمه ۲۲ ځلې په مختلفو شکلونو سره راغلې ده)). له همدې څخه مونږ ته دا خبره ښه څرګندېدلی شي چې اسلام یواځې د آوامرو او واجباتو دین ندی، بلکې د یو انسان د خوشحالتیا او نېکمرغۍ رازونه یې هم په پام کې نیولي دي.

استاذ یوسف القرضاوي صاحب د فقهي معاصرو فتاواو تر نامه لاندې یوه په زړه پورې لیکنه کړې ده چې په فارسي ژبه (دیدگاههای فقهي معاصر) په څلورو جلدونو کې چاپ دی ــ هیله لرم چې یو تن همدا کتاب پښتو ژبې ته را وژباړي؛ تر څو زمونږ ځوانان وروڼه او خوېندې ورڅخه ګټه پورته کړي ــ نوموړي په اسلامي شریعت کې د ټوکو او خنداکولو د حدودو په اړه څو اړینو آدابو ته اشاره کوي چې مونږ یې دلته په لنډه توګه سره یادونه کوو:

لومړی ادب- په ځینو جدي حالاتو کې ټوکې نه کول:

د ټوکو او خندا کولو له مهمو آدابو څخه یو مهم ادب دادی چې: یو انسان ته نه ښایي چې په یو لږ جدي حالاتو کې؛ لکه د ژړا او ویر په حالاتو کې له نورو سره ټوکې وکړي او وخاندي. هره خبره خپل ځای لري. د حکمت تعریف هم همدادی چې هر څه باید په خپل مناسب ځای کې ترسره شي. په یو حدیث شریف کې زمونږ لارښود پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) مونږ ته ارشاد فرمایي چې: (ثَلاثٌ جِدُّ هُنَّ جِدٌّ، وَ هَزْلُهُنَّ جِدٌّ: النِّكَاحُ و الطَّلاَقُ وَ الْعِتَاقُ). ترجمه: درې شیان داسې دي چې د هغې جدي خبره هم جدي وي او ټوکه یې هم جدي وي؛ (لکه) نکاح، طلاق او د غلام آزادول. اوس تاسې ووایئ چې ددې حدیث په رڼا کې: آیا

د واده په مسئله کې او یا یوې انجلۍ ته د مینې په څرګندولو کې هم څوک له چا سره ټوکې کولی شي؟

په ټولنیز ژوند کې یو لړ مسائل داسې وي چې له هغې سره ټوکې نشي کېدلی او د قرمزي کرښو په څېر ورڅخه تېرېدل ناوړه پایلې لري؛ لکه: لوی څښتن تعالی په قرآنکریم کې د مشرکانو دا کار غندلی دی چې هغوی به د قرآنکریم د آیتونو په اورېدلو سره ټوکې او خنداګانې کولې؛ پداسې حال کې چې لازمه خو داوه چې دوی باید پکې فکر کړای وي او د عذاب د آیاتونو په اورېدلو سره یې باید ژړلی وای؛ لکه چې لوی څښتن تعالی فرمایي:(أَفَمِنْ هَـذَا الْحَدِيثِ تَعْجَبُونَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ ﴿٦٠﴾ وَأَنتُمْ سَامِدُونَ] (سورة النجم/ ٥٩ ــ ٦٠ـ ٦١).

ترجمه: آیا تاسې ددې خبرې(قرآن په اړه) په تعجب کې پرېوزئ؛ او تاسې خاندئ(ټوکې او ملنډې کوی) او نه ژاړئ او تاسې بې پروایي کوونکي یاست.

دویم ادب- په ټوکه کې باید دروغ نه وي:

مسلمان ته نه ښایي چې حتی په ټوکو کې هم د نورو د خندولو لپاره دروغ ووایي. په غربي نړۍ کې یو عام دود او دستور دادی چې په دوی کې ځینې د اپریل په میاشت کې زیات دروغ وایي چې دوی ورته (اپریل فول) وایي. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته ارشاد فرمایي: (وَيْلٌ لِلذِي يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ، لِيَضْحَكَ الْقَوْمُ، وَيْلٌ لَهُ، وَيْلٌ لَهُ ، وَيْلٌ لَهُ). ترجمه: ډېره د افسوس خبره ده د هغه چا لپاره چې کله خبرې کوي او په هغې کې دروغ وایي تر څو(پدې کار سره) خلک وخندوي، د هغه لپاره افسوس دی، د هغه لپاره افسوس دی، د هغه لپاره افسوس دی.

درېیم ادب- ټوکې باید پر یو چا باندې د ملنډې او تمسخر په نیت نه وي:

استهزاء یا د نورو سپکاوی کول په اسلامي شریعت کې درست کار ندی، مسلمان باید هڅه وکړي تر څو نه د خپل ځان او نه هم د بل عزت النفس مجروح او ټپي کړي، انساني کرامت باید تر پښو لاندې نکړي. قرآنکریم مونږ ته په بشپړ صراحت سره وایي چې: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِّن نِّسَاءٍ عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ).سورة الحجرات/ ١١ آیت.

ترجمه: ای مؤمنانو! یو قوم دې (له تاسو څخه) پر نورو باندې ملنډې(ټوکې) نه کوي؛ ځکه کیدای شي چې دوی (مسخره کړای شوی) له هغو(ملنډو وهونکو) څخه (د الله تعالی په نزد ډېر) غوره وي؛ او (یوه ډله) مېرمنې دې (له تاسې څخه) پر نورو باندی ملنډې نه کوي؛ ځکه کېدای شي چې دوی(دا مسخره کړای شوي مېرمنې) غوره وي له هغو (مسخره کوونکو څخه)؛ او مه یو د بل عیب لټوئ او مه یو بل په سپکو نومونو (او پرېوتو لقبونو) سره غواړئ، له ایمان راوړلو وروسته دا نومونه بد دي(د مؤمن له ښکلي لقب سره دا نور نومونه ښه نه ښکاري) او هر چا چې توبه ونه ویستله؛ نو همدوی ظالمان دي.

أم المؤمنین حضرت عائشه (رضی الله عنها) فرمایي: یو ځل مې د رسول کریم(صلی الله علیه وسلم) پر وړاندې د یو شخص په اړه یو څه وویل؛ او د هغه د سلوک او غږ په اړه مې پېښې وکړې؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: دا نه خوښوم چې د یو چا پېښې(تقلید) وکړم، پداسې حال کې چې زه په خپله عیوب(نېمګړیتاوې) ولرم.

څلورم ادب- ټوکه باید د چا د وېرولو سبب ونه ګرځي:

پدې اړه غواړو ستاسې پام یوې په زړه پورې پېښې ته راواړوو. امام أبو داؤد (رحمه الله) د عبدالرحمن بن أبی لیلی نه دا حدیث روایت کړیدی چې ده ته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خوږو دوستانو دا کیسه را نقل کړې ده چې یو ځل داسې کار وشو چې: هغوی د نبي(علیه السلام) سره په لاره باندی روان ول، پدوی کې یو صحابي سره پړی په لاس کې ؤ د یو بل صحابي خواته ولاړ او هغه یې په پړي سره کلک وتاړه.(پدې کارسره) هغه سړی ووېرېده؛ نو پدې صورت کې نبي(علیه السلام) ورته وویل: ((لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُرَوِّعَ مُسْلِمًا). ترجمه: یو چا ته دا روا ندي چې (بل) مسلمان ووېروي.

سیستم مبتنی بر مفاهیم و ارزش‌ها نه مدل‌ها

فضل الرحمن فرقانی

بر اساس فرموده‌ی رسول الله -صلی الله علیه و سلم- عصر پیامبر گرامی سرچشمه‌ی خیر و صلاح و رستگاریست، که هر چه به آن نزدیک‌تر بود، حظ وافرتری از آن داریم. در لابلای و پهلوهای مختلف زنده‌گی، به یاد منازل ساده‌ی خام و گلی چند دهه قبل کابل و منازل اطراف کشور عزیز مان افغانستان افتادم، که ویژه‌گی‌های خاص خود را دارند. طرح و دیزاین آن بیش‌تر استوار به زنده‌گی مشترک در چارچوب قیمومیت یک کانون مرتبط خانواده و در محدوده‌ی امکانات محدود اقتصادی می‌باشد، بیزار از زرق و برق مزخرف و دروغینی که نه در خور این دنیای فانی و رو به زوال بوده و نه سازگار با جایگاه مناسبی برای عزت مهمان داشته باشد. به شکلی که مجزا از حریم شخصی منزل بوده و در به روی محتاج بسته نمی‌باشد. خوابیدن در شهری که عاری از بلند منزل‌های کریه است و نگاه به آن آرامش بخش و دوست داشتنی است و تناسب به همسایه‌گان و محل را حفظ نموده و باعث اذیت دیگران نمی‌شود.

جنگ، در کنار تباهی و ویرانیی که به بار می آورد، آثار شومی را هم از خود بجا می‌گذارد که سال‌های سال زجر آن‌را مردم متحمل می‌شوند. یکی از این ناهنجاری‌ها هم، از هم گسیختن ساختار جامعه و به وجود آمدن ناهمگونی‌ها در آنست. ثروت‌مندان و زورمندان، با پول و دارایی باد آورده شان بلند منزل‌ها احداث کرده اند و با ایجاد منازل بلند و بالای خلاف ارزش و نورم قبول شده جامعه قیودی را بر آزادی بقیه مردم وضع کرده اند. ثروت‌های باد آورده و ناپاک، طبق سنت الهی هیچ‌گاهی نیکی و خیری را به بار نمی آورد. الله متعال سبحانه و تعالی می‌فرماید: «وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهُ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَالَّذِي خَبُثَ لَا يَخْرُجُ إِلَّا نَكِدًا {اعراف/۵۸}».

(و شهر پاک برون می آید نباتش به اذن پروردگارش و آنکه خبیث و ناپاک است بر نمی آید؛ مگر اندکی که خیری در آن نیست). مفسرین این مثال قرآنی را در مورد شخص مؤمن و در مقابلش شخص کافر می‌دانند، اما یکی از معجزات قرآن همین است که حد و حصری برای معانی شامل آن نیست و مثال در واقعیت یک سنت عام الهی را بازگو می‌کند. پاکی همیشه پاکی و خیر را به بار آورده و ناپاکی و خبث، به جز فقر و بدبختی و نکبت چیزی را به بار نمی‌آورد.

بر می‌گردیم به پهلوی دیگر موضوع، اگر قرار باشد از مدل‌های شهرهای دیگر استفاده نماییم تا وضع شهرهای مان بهبود یابد چه باید کرد؟ و اما می‌توان از این مدل‌ها همچنانی که هست در جوامع اسلامی استفاده نمود؟

با اندکی اندیشیدن در می‌یابیم که دو نوع خصوصیت‌های منازل به چشم می‌خورد، نوع اول عبارت از استندردهای پذیرفته شده‌ی است که در همه جا و هر زمان مورد پسند و خواستنی بوده؛ اما نوع دوم، آن‌عده خصوصیاتی‌ست که در مطابقت با نیازهای منحصر به این جوامع به منازل داده شده است.

فراگیری دانش و حکمت، یک مفهوم وسیعی است، که پیامبر گرامی اسلام -صلی الله علیه و سلم- به آن توصیه نموده و مسلمان را مکلف می‌داند تا در جستجوی آن باشد. به این مفهوم که اگر خوبی و استحکامی را در هر گوشه‌ای از دنیا می بینیم، نه تنها که می‌توانیم؛ بل ملکف هستیم از آن استفاده سالم کنیم. بنا برین، طرح و دیزاین‌های مسکن موفق و مؤثر در سایر کشورهای دنیا می‌تواند نمونه‌های خوبی برای بهبود نوع مسکن در جوامع اسلامی ما باشد. اما فراموش نباید کرد، که خصوصیت‌های مورد نظر مان، صرفاً خصوصیت‌های از نوع اول باشد، که عبارت از استندردهای پذیرفته شده‌ای ست که در همه جا و همه وقت مورد پسند و خواستنی بوده، نه از نوع دوم آن، که مرتبط به تفاوت‌های فرهنگی و اجتماعی می‌باشد.

پس طرح و دیزاینی را در کل و به شکل کورکورانه و عجولانه نباید کاپی کرد؛ بل صرفاً در قبال خصوصیت‌های عمومی پذیرفته شده در همه جا باید بود.

کاپی کلی طرح و دیزاین از نوعی که در بالا توضیح داده شد، یک مشکلی هست که باید متوجه آن بود. این مشکل با این‌که مهم و قابل توجه است، ولی نسبتاً زودتر و آسان‌تر قابل ترمیم بوده و در عین حال به آسانی قابل درک هم می‌باشد.

اما روی هم‌رفته، مایان در جوامع عقب‌مانده به شمول جوامع اسلامی یک مشکل مهم‌تر از این و از یک نوع دیگری از کاپی کلی طرح و دیزاین‌ها را داریم که هر نوع ترمیم و اصلاح در آن مستلزم وقت و مصارف گزافی بوده و به آسانی قابل درک هم نمی باشد.

فورمول‌های دموکراسی عصر جدید و کاپی کلی و کورکورانه و عجولانه‌ی آن در جوامع اسلامی، یکی از این مشاکل است.

فورمول‌های دموکراسی عصر جدید او ناکارایی آن در ممالک عقب‌مانده

ناکارایی فورمول‌های دموکراسی عصر جدید در ممالک عقب مانده در این اواخر بیش‌تر عرض اندام نموده و جلب توجه می‌نماید. زرق و برق و پیش‌رفت اقتصادی و بشری ممالک غرب، همواره توجه کشورهای عقب مانده را به خود جلب نموده و نظریه‌ی کاپی نمودن این فورمول‌ها و تطبیق آن برای دست یافتن به پیشرفت‌های مشابه، از دیر زمان در جوامع عقب مانده رشد نموده و به طرف‌داران آن روز به روز افزوده می‌شود.

از طرفی هم در راستای مبارزه با عقب مانده‌گی منحیث یک معضل جهانی دنیای غرب هم عین یک دیدی را برای حل آن داشته و پیوسته در تلاش بوده است، تا فورمول‌های دموکراسی عصر جدید را که درممالک غربی و پیش‌رفته نتایج مطلوب و چشم‌گیری را در قبال داشته باشد، به ممالک

عقب مانده به شمول ممالک اسلامی صادر نمایند و پروسه‌ی تطبیق آن‌را از جهات مختلف به شمول جهت مالی آن حمایت هم نمایند، که یکی از این فورمول‌ها اجرای انتخابات عمومی برای زعامت کشور بوده است.

از همان آغاز تجربه نمودن انتخابات عمومی در کشورهای عقب مانده، به ندرت دیده شده است که نتایج مطلوبی را در قبال داشته باشد. البته برخلاف کشورهای پیش‌رفته که حالت برعکس بوده و انتخابات عمومی همواره نتایج مطلوبی به بار آورده است.

با در نظر داشت اهمیت زعامت کشور، هر خلل و نارسایی در مکانیزم انتخاب آن، باعث نتایج معکوس شده و پیامدهای خیلی‌ها ناگواری را در کشور به بار می آورد؛ تا جایی که کشور را در پرت‌گاه خلای قدرت در سطح زعامت برده و فساد را در همه سطوح بالا و پایین اداره کشور گسترش می‌دهد. بناءً، این نسخه به‌جای حل معضل، کشور را بیش‌تر از پیش، در عمق دایره‌ی خبیثه قرار داده که برون‌رفت از آن‌را از امید به یک آرزو و یا بهتر بگوییم، به یک خیال تبدیل می‌کند. ناهنجاری‌های گوناگونی از قبیل تعصبات قومی، لسانی، سمتی و گروهی اوج گرفته، بستر خوبی برای مداخلات بیرونی فراهم شده و کشور بیش‌تر از هر زمانی، در خطر بروز جنگ‌های داخلی قرار گرفته و یاهم به شدت آن افزوده می‌شود.

همان‌گونه که در بدن شخص مریض همه قوت‌ها از دست رفته و جراثیم در آن رشد می‌کند، به همین گونه، چنین وضعیتی کشور را به حالتی سوق می‌دهد، که افراد فاسد و فرصت طلب روز به روز زورمندتر شده و تسلط نا مشروع خود را بر جامعه بیش‌تر و بیشتر می‌کنند؛ در حالی‌که سایر افراد روز به روز فرصت‌ها را از دست داده و مظلومانه زیر چکش زورمندان خورد و خمیر می‌شوند.

پس مشکل در کجاست؟

آیا مشکل در این نیست که جوامع عقب‌مانده به شمول جوامع اسلامی فورمول‌های را به کار می‌برند که با ساختار و وضعیت کنونی آنها سازگار نیست؟ آیا مشکل در این نیست که مایان به پیش شرط‌ها و لازمه‌های این فورمول‌ها توجه نکرده ایم و کورکورانه و عجولانه عمل می‌کنیم؟

آیا مشکل این نیست که ما اکثراً تفاوت میان مفاهیم و ارزش‌های پذیرفته شده‌ی عام و مشترک از قبیل: آزادی، احترام گذاشتن به رای مردم، شایسته‌گی در کار و عدالت و غیره را با فورمول‌های مشخصی که برای تأمین آن در برخی از جوامع طرح شده است، از نظر انداخته ایم؟

متوجه باید بود که ما بنا بر هیچ قانون و یا اصلی، ملزم به پیروی ازین فورمول‌ها، که اکثراً شاید تطابق با شرایط عینی جوامع ما نداشته باشد، نیستیم؛ بل ان چیزی که ملزم به تامین آن هستیم، همانا مفاهیم و ارزش‌های عام و مشترکی‌ست که هیچ منطق سالم بر خلاف آن نمی اندیشد و می‌تواند با استفاده از فورمول‌های متفاوتی تامین شود؟

زرق و برق و پیش‌رفت جوامع غربی، البته آنچه که می‌توان آن‌را پیش‌رفت گفت، در تأمین همان مفاهیم عام و مشترک است؛ نه در ترکیب فورمول‌های طرح شده برای تامین آن، که می‌توان تفاوتی فاحشی را در آن فی‌مابین همین جوامع غربی هم مشاهده کرد.

پس مشکل استفاده از فورمول‌هایست که تفاوت‌های بی‌شماری با شرایط عینی جوامع عقب‌مانده به شمول اکثر جوامع اسلامی دارد. موارد مشخصی که به طور نمونه ترکیبی از تجارب ناکام استفاده از فورمول‌های غیر متناسب با شرایط جوامع مایان را تبارز داده و باعث این نارسایی در کل می‌شوند عبارت اند از:

۱. نداشتن شاخص‌های مطلوب در افراد رای دهنده، از قبیل سواد، آگاهی لازم، شناخت کافی از حکومت‌داری و ارتباط آن با زندگی شخصی و اجتماعی، معلومات کافی در مورد کاندیدان و پروسه‌ی انتخاباتی، داشتن توانایی لازم برای مقابله با افراد فاسد و استفاده جو که در تلاش سوء استفاده از احساسات مردم به نفع خود باشند و بالآخره پذیرفتن نتایج سالم در سطحی که مجالی برای افراد فاسد برای استفاده جویی باقی نماند.

۲. نداشتن زمینه‌ی فراهم شده‌ی که با استفاده از آن افرادی دارای مواصفات و شایسته‌گی مطلوب بتوانند از حق کاندیداتوری برخوردار باشند و در عین وقت وسیله‌ی مؤثری برای تفکیک افراد استفاده جو، فاسد و غیر مطلوب باشد.

۳. عدم وجود یک ساختار مستقل، خودکفا و یک نواخت سیاسی، اجتماعی، اقتصادی، امنیتی، اوپراتیفی و مالی که زمینه‌ی مطلوبی را برای رقابت‌های سالم و مؤثر برای کاندیدان فراهم نماید.

٤. عدم وجود یک ارگان تنظیم کننده و مجری پروسه‌ی انتخابات، که مستقل، غیر وابسته به جهات داخلی و بیرونی، دارای اعتبار و قوت کافی قانونی باشد و بدون عذر معقول، امکان به چالش کشیدن نتایج بدست آمده را از دست افراد فاسد و استفاده جو بردارد و تعمیل نتایج را تضمین نماید.

۵. یکی از موارد قابل توجه در رابطه به وابسته‌گی پروسه‌ی انتخابات نیازمند بودن آن به مساعدت‌های مالی بیرونی می‌باشد. البته هیچ قابل درک نیست، که چگونه چنین پروسه‌ی حیاتی مهم و سرنوشت ساز ملی را نیازمند به مساعدت‌های بیرونی می‌گذارند، در حالی‌که به هر گونه‌ی ممکنی باید از منابع داخلی ملی تمویل شود، تا استقلال مطلوب در آن حفظ شود.

صرفاً به عنوان نمونه باید یاد آور شویم، که تفاوت‌های بی‌شماری را می‌توان در سیستم‌های انتخاباتی برتانیه و ایالات متحده‌ی امریکا مشاهده نمود، که علت آن دو نکته‌ی مهم است: نخست تفاوت قابل ملاحظه در شرایط مختلف دو کشور، که می‌تواند در زمینه‌ی اثر گذار باشد، و دوم هم این‌که زمام‌داران امور به قدر کافی در زمینه سعی به‌خرچ داده اند تا سیستم را برای خود بسازند که سازگار با شرایط کشور شان باشد و به درستی بتواند کشور را در این ساحه‌ی مهم و حیاتی مساعدت نماید.

باید متوجه بود، که همه‌ی آن‌عده کشورهایی که حایز یک سیستم انتخاباتی درست و کارا اند، آن‌را یک شبه به دست نیاورده؛ بل ثمره‌ی تلاش‌های خسته‌گی ناپذیر و مجدانه‌ای زمام‌داران امور بوده، که پیوسته در اصلاح و ارتقای آن تلاش مزید به‌خرچ می‌دهند.

بر عکس، آنانی‌که به سیستم انتخابات سطحی نگاه می‌کنند و شهامت تولید سیستم مبتنی بر اصول و ارزش‌ها و شرایط کشور را در خود نمی‌بینند و بلاثر از سیستم‌های رعایتی و بی‌گانه استفاده می‌کنند، همواره باعث نتایج معکوس و نامطلوب برای کشور می‌شوند.

در نتیجه طور خلاصه می‌توان گفت: با در نظرداشت شرایط موجود در کشور، از قبیل نا امنی، فساد و محدودیت آگاهی‌های لازم میان مردم، باید زمام‌داران امور قدری بیش‌تر در مورد بازنگری نموده و سعی به‌خرچ دهند، تا یک طرح سازگار و موافق با این شرایط را به میان آورند، تا بیش‌تر نتیجه محور بوده؛ نه پروسه محور و یا هم به عبارت دیگر: هدف آن نه صرفاً طی یک پروسه‌ی بنام پروسه‌ی انتخاباتی باشد؛ بل نتیجه‌ی نهایی مطلوب را هدف قرار داده که همانا انتخاب یک زعیم شایسته می‌باشد طوری که سیستم منحیث ابزار برای تحقق چنین هدفی بکار برده شود؛ نه منحیث عایق و چالشی و نه هم منحیث فرصتی برای اهل تزویر و دزدان مصلح نما.

د امت ننداره!

محمد سعید جواد

د تخیل په نړۍ کې روان وم، یو دم مې یوه ډله خلک ولیدل چې چړې، تبرونه او وسلې بې په لاس کې دي له بېړیو ښکته شول، تر شا بې وسله وال پوځیان هم ښکاربدل، له ځانه سره مې فکر وکړ، کېدای شي دوی به کوم جرم کړی وي او وسله وال پوځیان به بې د قانون منګولو ته سپاري، لږه شېبه بې نور هم ننداري ته تم شوم، ګورم چې په چړو او وسلو سنبال کسان یوځای ته راټول شول، خپلو کې بې سره څه وویل او په چټکۍ سره په یو او بل طرف په ځغاسته شول، په کلیو او کورونو ورننوتل، شېبه وروسته بې ښځې، ماشومان، بوډاګان او ځوانان لاس تړلي راروان کړل، ماشومان د میندو په مخکې ذبح شول، زړه سوانده مورګانو دغه حالت ونه زغملی شو، د خپلو زړونو د ټوټو د خلاصون لپاره بې کشمکش شروع کړ، یوه ډله خلک راغلل، اوږدې چړې بې د ښځو په خېټو کې وردننه کړې، په حجاب کې پټې بیبیانې بې بې حجابه کړې او لکه د وحشي داړونکو په څېر بې د هغوی په داړلو پیل وکړ...دې سره وسله وال پوځیان او په چړو سنبال خلک په ماشومانو، سپین ږیرو او ځوانانو ورپرې وتل او په لږ وخت کې بې میدان په وینو رنګ کړ، هره خوا د مړو لاشونه ښکاربدل، ومې پوښتل: دا څوک دي؟! یو نا اشنا غږ مې واوریدد: دا وژل شوي مسلمانان ... او ژوندي د برما بودایان او د واکمن نظام پوځیان دي... له خولې مې چېغه ووته، منډه مې کړه چې محمد بن قاسم راخبر کړم! لاره مې په چټکۍ سره ووهله، له ځانه سره مې ویل: کله چې دمشق ته ورسېدم، نو د امیرالمؤمنین او محمد بن قاسم په مخکې به په چېغو چېغو دا داستان بیانوم... دمشق ته چې لاړم، ګورم چې ځای ځای پلونه په بمونو الوتي دي، دنګې دنګې ودانۍ نړېدلې دي، هر ځای کې خښتې، سیخان او د سیمنټو ټوټې پرتې دي، لږ چې ورنږدې شوم ړنګ دېوال مې ولید، ورته ځیر شوم، څه ګورم چې د مسجد محراب ؤ، په ویجاړ مسجد کې چې لږ نور مخکې لاړم د ایرو یوه لویه ډېرۍ مې پکې ولیده، په څنګ کې بې سوځېدلې پاڼې پرتې وې، ورغلم، یوه پاڼه مې ترې راواخیسته، نیمه سوځېدلې وه، نیمه لا پاتې وه، په خپلو سترګو مې باور نه راته چې د اموي خلافت په مرکز کې دې قرآن کریم نیم سوځېدلی او شیندلی پروت وي او هر ځای دې په وینو سور وي، حالت مې بېخي بل ډول شو، له ځان سره مې وویل: کېدای شي چې لاره مې غلطه کړې وي... شاید دا به کوم بل ځای وي، په راغلو سرکونو او کوڅو بېرته راووتم، لږ مخکې لاړم، سترګې مې په یوه دنګه ژېړه مناره ولګېدې، لږ خوشاله شوم، ومې ویل: کېدای شي د دمشق مسجد الصخرة وي... چې ورنږدې شوم، مسجد اقصی ؤ، یوه ډله پوځیان مې ولیدل چې د منسوخ تورات نسخې بې په لاسونو کې نیولې وې او دا شعار بې په خوله ؤ: د خیبر د ورځې په غچ کې! محمد صلی الله علیه وسلم مړ شوی دی او تر شا بې نجونې پرېښې دي... پوه شوم چې یهود دي، د برما د مسلمانانو او د دمشق د کنډوالو او وینو غم مې بېخي له یاده ووت...یو ځل بیا په په خپلو راغلو قدمونو راوګرځېدم چې صلاح الدین ایوبي راخبر کړم او ورته ووایم چې اقصی بیا اشغال شوې... دا ځل له لارې لږ کوږ شوم، له ځانه سره مې وویل: راځه نېغ بغداد ته لاړ شه، کېدای شي سلطان ایوبي د خلیفه نورالدین زنګي لیدلو ته راغلی وي، د ډېر مزل څخه وروسته مې د موصل شین ښار د لیدلو تلوسه پیدا شوه چې کله ورنږدې شوم، باغونه او ونې ټول لوګیو وهلي وو، وارخطا شوم، ځکه د موصل ښکلې څېره مې کله هم داسې بدرنګه نه وه لیدلې، له ځان سره مې وویل: کېدای شي دا به زما وهم وي ځکه ډېر مزل مې کړی ؤ او سخت تږی شوی وم، له ځان سره مې کړه: راځه، د فرات سیند خوږې اوبه وڅښه، کېدای شي تنده دې پرې ختمه شي او د سترګو خړوالی به دې هم ورک شي... فرات! د پخوا په څېر

څپانده ؤ، خو دا ځل لکه د پخوا په څېر نه ؤ، پوره چې ورته ځیر شوم نو اوبه بې راته سرې ښکاره شوې، دا ځل مې بیا هم د ځان غولولو هڅه وکړه او بیا مې له ځان سره وویل: راځه نو لږ لاندې ورښکته شه او له نږدې بې وګوره، ستا سترګو کې حتما څه فرق راغلی او شاید اصلي ښه به بې داسې نه وي.

لاندې چې سیند ته ورښکته شوم، د ډېرې تندې له امله مې د اوبو رنګ ته ونه کتل او په څښلو مې پیل وکړ، په لومړي غړپ سره پوه شوم چې د اوبو خوند بدل شوی دی، خو بیا هم! کله چې په اوبو موږ شوم او راپاڅېدم، ومې لیدل چې د فرات اوبه رښتیا هم تکې سرې دي، ومې ویل: زما سترګې او زما خوله ماته دوکه نه شي راکولی، حتما دلته هم څه خبره شته، لږ چې ښکته راغلم، د فرات ستر پول هم دوه توکړې شوی ؤ، خو بیا هم د پلي تېرېدو امکان پرې ؤ، پرې پلی روان شوم او مات شوي ځای ته ورسېدم چې په بمونو لګېدلی ؤ، اوس مې نو شک په یقین بدل شو او پوه شوم چې عراق هم د سخت اور په لمبو کې سوځي، د پل تر څنګ مې لاندې وکتل فرات په خپله غېږه کې د انسانانو جسدونه راروان کړي وو، عجیبه انسانان! د چا سر پرې ؤ، د چا لاس نه ؤ او د چا نیمه تنه نه وه... سترګو مې سخت تور وخوړ، نږدې وه چې له پول څخه لاندې غورځېدلی وای، خو ښه ؤ چې ځان ته ځیر شوم، لږه شېبه کېناستم چې دمه وکړم، چې کله مې د آرام ساه واخیسته بیا روان شوم.

بغداد ته راورسېدم، په لاره کې هر ځای د سرونو څلي جوړ وو، د بغداد چوکونه په وینو سره وو، د مسجدونو دروازې نه وې، د ځینو مسجدونو دېوالونه د اور لوګي د سکرو په څېر تور کړي وو، د بغداد سوځېدلو جوماتونو راڅخه د مسجد اقصی ویر هېر کړ... په زوره زوره مې چېغې کړې: څوک شته؟ له نامعلوم لوري ځواب راغی: ویل بې: دلته د څه لپاره راغلی یې؟ ومې پوښتل: دا موصل، فرات او بغداد ولې داسې دي؟ کړه بې: هی هی، ته لا اوس هم د فیل په غوږ کې ویده یې! کلونه کېږي چې دلته د شیعه او سني جګړه روانه ده، جګړه تر دې ورسېده چې آن د قرآن کریم نسخې او جوماتونه هم پکې وسوځېدل... نور نو غږ خپ شو...له ځان سره مې وویل: د مسلمانانو حالت دومره بد او لویدلی چې خپل قرآن په خپله سوځوي؟!!! د چا چې د خپلې سیمې د مسجد مینه په زړه کې نه وي نو د مسجد اقصی مینه به یې څنګه په زړه کې پیدا شي، څوک چې د خپل کلیوال او ګاونډي سر په خپله پرې کوي او زړه یې پرې درد نه کوي نو هغه به د برما، فلسطین او... په مسلمانانو څه ودردېږي، زه لا په همدې فکر کې وم چې ناڅاپه مې د عثماني خلافت په لور سترګې واوښتې، په چورتونو کې ډوب شوم، محمد الفاتح مې سترګو ته ودرېد، د ړنګ بغداد نه یو ځل بیا د ودانې ترکیې په لور روان شوم، کله چې ورسېدم د سلطان سلیم او سلطان فاتح لوښې مې بې حجابه؛ لوڅ سر ولېدې، له همغه ځایه بېرته راستون شوم، په خپلو اوږو مې یو دروند پېټی احساساوه، زنګېدلی راروان شوم اوتر کابله راورسېدم... بهرني عسکر مې ولیدل چې د کابل په چوکونو کې ښکته پورته ګرځي، د ویر یوه بله دنیا پکې واکمنه ده، نور مې ددې لوی غم د تحمل توان په ځان کې ونه مونده، په زوره زوره مې چېغې کړې، یو دم د تخیل له دنیا راووتم، ګرېوان مې په اوښکو لوند ؤ، د ماښام آذان کېده، پاڅېدم، تر مسجده لاړم، لمونځ مې وکړ، د دعاء لپاره مې لاسونه لپه کړل نو د اسلامي نړۍ ویرجنه ننداره مې سترګو ته ودرېده او د آزادې او سرلوړې اسلامي نړۍ دعا مې وکړه... .

ســـــازدل

محمد عزیز عزیزی- لندن

ساز دل امشب چه زیبا نغمهٔ سر میکند
پنبه های غفلت ازگوش گران در می کند
گفت:صاحبدل به آهنگ خوش ومستانه اش
کیمیـای عقل ودین، این خاک تن زرمیکند
این دو نعمت گوهرشب تاب باشد دروجود
خانهٔ دل را چـــو مصباحی منورمی کند
آنکه دارد بهره ای زین لولوئی شهوار خوب
همچو شاهان تاج عزت را او بر سر میکند
نقش استحمار را بنگرچســـان از آدمی !
عقل ودینش را ستاند شخص را خرمیکند
روضه خوان در نقش استحمارباشد این زمان
چشم وگـــوش آدمی را کور وهـم کر میکند
تا فریبـد مردمی با جعـل واغـراق وغلو
بس مقولات دروغ وکذب از بر مـی کنـد
دیده باشی مجفلِ رسوای آخـــوند مُحیل
اهل مجلس راچسا ن بی پا وبی سر میکند
هر کجا حاکم شود این گونه افکار سخیف
حـال مـــردم را بد وبسیار بد تر میکنـــد
عقل و دین و گوش وچشم خویش را بر کاربند
نعمت مـولا ترا ســـالار وسرور مـی کنـد
دور شو از مجلس این دشمنان عقل ودین
دین ودنیـــای ترا ویـران وابتـر میکند
شکرایزد کن « عزیزی» دائما صبح ومسا
بر همـــه لطفش که بر تو حی داور می کند

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت در کشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

چینه

فابریکه تولیدی لوازم تشناب

اولین فابریکه تولیدی لوازم
تشناب با پنج سال گرنتی

آدرس: پکتیاکوت، نساجی سابقه کابل
Cheena Sanitary Fitting industry
0789090677

واسکت دریشی

HANEEF TAILOR
H.T.S

خیاطی و رخت فروشی حنیف ستایل

رخت فروشی و دوخت لباس با دیزاین کتلاک پذیرفته میشود

+93783000135 - +93795552296
/Haneef-Tailor
haneef.tailor.style@gmail.com
کلوله پشته بین چهار راهی ترافیک و گل سرخ

104.3 FM

رادیو صدای اصلاح

کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اصلاح ملي

د تېرو کلونو کلکسیونونه

آدرس: د جمعیت اصلاح مرکزي دفتر - تیمني سابقه - خلورمه کوڅه
شمېره: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۷ ساعت نشرات در شبانه روز
شماره تماس: 0786945943